د سترو پوهانو او عالمانو منتخبي او په زړه پوري ويناوی

# مفتي ملغلري

ليکوال: وکيل احمد«بارک»

کال(۱۴۰۰)ه ش

**د کتاب نوم................... مفتي ملغلري**

**ليکوال او راټولونه..............وکيل احمد بارک**

**همکار استاد............حکمت الله خادم**

**چاپ کال.....................۱۴۰۰ ل**

**ټول مخونه...................۷۳**

**ډالي!**

ټولو هغو ځوانانو ته چي په راتلونکي کي

د خپل هيواد د خدمت جوګه کيږي.

= مسولیت ته غیږه ورکړ،پرېږده چي هرڅه پیښیږي پيښ دي شي.

= له یاده یي مه باسه د ژوند د بدلون امکان سته.نورو دا کار کړي.

= سخت کار وکړه سخته لوبه وکړه او دنیا ته بدلون ورکړه.

= ژوند هم هغه څه تاته دربخښئ چي ته یي تري غواړي.

= اوچت او عالي اهداف د عمل سبب کیږي .

= ته هغه وخت ماته خوري چي له ځان سره ووایي «زه مات شوم».

= که چيري د زړه له تله باور لري چي بریالی کیږم  نو حتمآ بریالی کیږي.

= لوی فکر وکړي او لوی نتایج لاسته راوړي.

= ځان ته ذهنی بلاوي مه جوړوه ناوړه خاطري هیري کړه  مثبت افکارحافظي ته وسپاره.

= هر کار چي کوي پکښي بهترين او لمړی درجه اوسه.

= دهغه موضوع په اړه قضاوت مه کوه چي سم پري پوهیدلي نه یي.

= په یاد ولره ،دراناوی او احترام ټول کسان تر تاثیر لاندي راولي.

=کله چي د زړه له تله خوشحاله یي نو خوشحالی دي په خپله څیره کي هم معلومه کړه.

= ورو خبري کوه او تیز فکر.

= په یاد ولره چي په ځینو وختونو کي سکوت تر ټولو ښه ځواب دي.

= هڅه وکړه چي د خپلو ماشومانو لپاره ښه معلم ووسي.

=په ځینو وړو مشکلاتوباندي د لویو مشکلاتو په څیر ځان مه زیانمنوه.

=کله چي ستاسي تعریف او ستاینه کیږي نو په صمیمانه ډول یوه«مننه» ویل ستاسي تر ټولو غوره ځواب دي

**= هيڅکله مه تسليميږه هره ورځ نوي معجزه رامنځته کيږي.**

**= زړور اوسه، زړور چلند وکړه،هيڅ څوک به ونه وايي،چي ته پخوا داسي زړور نوي.**

**= چوپتيا او غوږ نيونه زدکړه،ځکه لوي فرصتونه په کراري او ارامي کي ځان ځرګندوي.**

**= د قهر په وخت کي هيڅکله لاس په عمل در څخه پورته نسي.**

**= هميشه او په هر حال پر خدای ج توکل وکړه.**

**=هيڅکله هغه ورځ مه پيلوه چي مخکي له مخکي دي دکاغذ پرمخ پای ته نوي رسولي .**

**=که چيري د خپل ژوند په وضيعت،او حالت باندي راضي نه وي،نوبدلون ورکړه،کومه ونه او بوټي خو نه يي.**

**= په خپله پر ستونزه تمرکز مه کوه، پر حل باندي يي تمرکز کوه.**

**=د هر کار ترپيلولو وړاندي له ځانه وپوښتي،ددغه کار کول يانه کول به زما پر ژوند کم لوی تاثيرات ولري.**

**= ستونزي او مشکلات موږ نه ځنډوي،هغه موږ روزي او زدکړه راکوي.**

**=د ژوند په تر ټولو مهمو مسايلو کي په سرعت سره عمل وکړي.**

**=خپل فکرونه مو کنټرول کړي،په ياد ولري چي تاسي همغه کيږي چي ورباندي فکر کوي.**

**=که چيري دوه کارونه په مخکي لري،نولمړي هغه کار ته اوږه ورکړه چي تر هغه بل سخت،مهم اولوی وي.**

**= څوک چي موږ پوهولي شي،هغه کولای شي په موږ کي بدلون راولي.**

**= مو قع ياچانس د چا کورته پخپله نه ورځي،بايد ته پسي ولاړ سي.**

**= که غواړي خلګو ته ګران ووسي،«له نورو سره ريښتيني مينه ولري».**

**= که غواړي چاته خدمت وکړي،د ښه نوم خاوند يي کړه.**

**= لوړي غونډي ته ختل،په ورو ورو تګ سره کيږي.**

**=يو شمعه د بلي شمعي په رو ښانه کوولو سره هيڅ له لاسه نه ورکوي.**

**= ستر او پياوړي کسان هغه څوک دي چې د ژوند ډېر ترخه واقيعتونه زغملای سي.**

**=خندونه بيرونکي بلاوي دي،او يوازي هغه وخت ستا مخي ته دريږي،چې ته د خپل هدف څخه مخ واړوي.**

**=ناکامي دا نده چې ته خپل هدف ته ونه رسيږي،بلکي ناکامي هغه ده چې هيڅ هدف ونلره**

**=زما مشوره داده چې واده وکړه،که دي ښه جوړه په نصيب شوه خوشحاله ژوند به ولري،کنه نوبيا به فليسوف در څخه جوړ سي.**

**= د ستونزي څخه د تيښتي ښه لاره دهغي حل کول دي.**

**=هغه څوک چې د تازه ميوي هيله لري، نوبايد د درختي سرته پورته سي.**

**= خپل دښمنان وبخښه خو نومونه يې مه هيروه.**

**= ښه چانس په ژوند کي يو وار دروازه ټکوي.**

**= بی غيرته خلک د خپل مرګ څخه دمخه څو واره مړه کيږي.**

**= د زړيدو څخه شکايت مه کوه، ځکه ډېر خلک دهغه چانس نه پيداکوي.**

**= که غواړي خپله نړي بدله کړي،نو ځپل فکر دي بدل کړه.**

**= هغه څوک چې تا په غوسه کولای سي، تا فتح کولای هم سي.**

**= د تنګ نظر خاوندان معمولآ پراخه خوله لري.**

**= ښځه خوشحاله کيږي، چې د هر شي په باب پوښتنه ځيني وشي.**

**= کامل مسلمان هغه څوک دي، چې ده ښه خوی خاوند وي.**

**= د خلکو په اړه د بد ګمان کوولو څخه ځان وساته.**

**= دخلګو سره د هغه د مرتبي مطابق معامله وکړي.**

**= کشرته د مشر،مشر ته دکشر،رتبه مه ورکوه، کنه نو د نړي نظام به فاسد سي.**

**= يوازني خلک چې د خپلو خدمتونوپه بدل کي د منني تمه نلري ،هغه مور او پلار دي.**

**= غصه تل یوائې راځي،لیکن د تللو په وخت کي،عقل،اخلاق،اودانسان ښایستوالي له ځان سره وړي.**

**=هغه کسان چي په خوږو الفاظو خبري کوي،هغوي هیڅکله یوازي ندي.**

**= د دوستانو ځورول د دښمنانو د هیلو بشپړول دي.**

**= د حاسد،او کینه کونکي په وړاندي له چوپتیا څخه مرسته وغاړي.**

**= که خپله ژبه له شکایت څخه وساتو،د خوښي څخه ډک ژوند به ولرو.**

**= د خرابو خلګو صحبت(مجلس) دنیکو خلګو لپاره افت دي.**

**= له خندا کونکي سره خندا مه کوي،بلکي دژړاکونکي سره وژاړي.**

**= انسان ته دادب وربښودل، د حیواناتو له ادب ښودولو څخه هم مشکل دي.**

**= په مال ټول خلک نسي راضي کولاي،خوپه نیکو اخلاقو ټول خلک راضي کولاي سي.**

**= اصل،قوي،او غیرتمن انسان برداشت کونکي( زغمونکي )دي،نه غچ اخیستونکي.**

**= هغه زړه چي پر الله ج عاشق وي، پاچاه دي.**

**= هیڅکله په هغه کس چي درواغ درته وایي باور مه کوه .**

**= هیڅکله هغه کس ته چي باور درباندي لري درواغ مه وایه.**

**= خاموشي د غوصي بهترین علاج دي.**

**= تر ټولو ښه او بهترین عمل، صداقت او اخلاص دي.**

**= یوعالم وایي،د ډیرو ترخو شیانو خوند مي کتلي،خو تر احتیاج مي تریخ شی ندي لیدلي.**

**= شین سترګي وفاء نلري. تور سترګي خطاء نلري.**

**= که د هرچا خبري نرمي او خوږي وي،حتمآ یي اخلاق هم د عالي درجي څخه دي.**

**= غوصه کونکي خلک همیشه هوښیار نوي.**

**=د نورو پیژندنه ستا ځیرکتیا ده،د خپل ځان پیژندنه ستا هوښیارتیا ده.**

= که ښځه نه وای نو دا د نړي نابغه ګان به چا روزلي واي.

= ځیني خلګ د ډبرو په لټون کي الماس بایلي.

= له مبارزي پرته پرمختګ ناشوني دي.

= په ژوند کي څلورشیان مهم دي ۱- مینه ۲- صداقت ۳- ریښتیا ۴- عزت.

= ناکامي د کامیابي ضد کلمه نده،بلکي د کامیابي یوه برخه دي.

= هیڅکله یو بل ته داسي وعده مه ورکوي چي پوره کولای یي نشي .

= ستر ښوونکي تل له خپلو شاګردانو سره خاندي،اوهغوی ته سمه لار ښيي.

= تر ټولو ډیره مینه دي له ښوونکي سره وکړه.

= هوښیارانو ته بي له کتابه ژوند ګران دي.

= د خلګو زړونه خوته نه سي صفاء کولي،خپله زړه خوصفاءکولي سي،نو صاف یي کړه

=هڅه نه کول د ناکامي لمړي پوړي دي.

= فکر وکړه،فکر کول وړیا(مفت) دي.

= له مور او پلار سره هغه چلند وکړه؛چي د خپلو اولادونو یي تمه لري.

= د هوښیارتیا دروازه د خپل ځان پیژنده ده.

= که مو سپي ته دري ورځي ډوډي ورکړه ؛نو دري کاله مو احسان نه هیروي.که یو انسان ته مو دري کاله ډوډي ورکړه؛په دریو ورځو کي یي له یاده باسي.

= معمولي انسانان هیلي او امیدونه لري؛کامیابه انسانان،موخي او پلانونه لري.

= یو ځل دروغ ویل ستاسو ټول ریښتیا تر پوښتني لاندي راولي.

= خیرن او ټباکي شوي لاسونه د حلالو پیسو نښه ده.

= د نرم او مهربانه زړه خاوندان بي عقله او احقمان ندي.

= د خوشحاله کورني در لودل هرڅه دي؛اندیښنه مه کوه چي پیسي نلري.

**= جنت هلته وي؛چیري چي ظلم او ازارول نه وي.**

**= هیڅکله دا اجازه مه ورکوي چي ستاسي ارمانونه یوازي خوبونه پاتي سي.**

**= د کامیابۍ او بریا لپاره خوبونه مه وینه؛بلکي د هغه لپاره کار وکړه.**

**= ملګرتیا د یو مرغه په څیر ده؛ که ډیره کلکه یي ونیسي له منځه ځي،که یي سسته ونیسي الوزي او له لاسه مو وځي،که په پام سره یي ونیسي،تل به درسره وي.**

**= منفي فکرونه تخریبونکی دي،تاسي ناهیلۍ او مایوسي ته تشویقوي.**

**= د شروع کولو لپاره هیڅ وخت ناوخته ندي.**

**= دا هیڅیري نه دي لیدل شوي،چي دبریالیتوب وسیله دي لټي او تمبلي وي.**

**= نړي د کړني ځای دي،دلته باید هر انسان یوڅه نه یوڅه وکړي.**

**= ته هر هغه شی تر لاسه کوي،چي زیاتره ستا په زهن کي تیریږي.**

**= هڅه وکړه چي زاړه فکرونه دي پسي وانه خلي.**

**= تل له ځان سره وایه«زه په خپلو هغو دوستانو ویاړم،چي دوي په ما ویاړي».**

**= «زه یي لیاقت نلرم»هغه جمله ده چي ډیر انسانان یي کندو ته اچولي دي.**

**= له هر چا سره چي مخ کیږي له شرط او دلیل پرته خپله مینه تري قربان کړه.**

**= په ځان کي عیب لټول ډیر سخت کاردي،په بل کي عیب لټول ډیر آسان کار دي.**

**= د زړه ساتل مشکل دي، خو د زړه ماتول آسان دي.**

**= د خلکو راز بیانول خیانت دي،د خلکو راز ساتل صداقت دي.**

**= د بل خطایي معاف کول بهترین انتقام دي.**

**= تر هغه احسان چي وروسته یي یادونه کیږي.هیڅ احسان نه کول غوره دي.**

**= نفس د شیطان په ډول دي،نو مخالفت یي هم عبادت دي.**

**= ښه ملګري یو نعمت دي ، او بد ملګري بلا او مصیبت دي.**

= څوک چي د پاک زړه څښتن وي،کبر يي زړه ته لار نه مومي.

= د دریابونو څخه په اوبو رایستلو دریاب نه کمیږي، علم په حاصلولو نه کمیږي.

= ملګرتیا کتاب ته ورته ده،سوځیدل يي څو ثانيي غواړي،خولیکل يي کلونه غواړي.

= په ستونزو کي زغم( صبر) د بریالیتوب کیلي ده.

= کار کول انسان له دریو سترو بلاوو څخه ژغوري ۱سستي ۲بي لاري۳ احتیاج.

= و پوهیدم چي د خیر او برکت خلګ په ساده مسلمانانو کي مندلي شم.

= ځیني وخت غمونه او مشکلات دخوشحالي د راتلو زیري وي.

= د ښو اخلاقو خاوندان تل فکر کوي،چي ښه نوم ورڅخه په یاد پاتي سي.

= د انسان ارزښت دري شیان دي؛علم،محبت،ازادي.

= عوام شتمن خلګ خوښوي؛او خاص خلګ عالمان او پوهان خوښوي.

= څوک چي د بل نیکمرغي غواړي؛لیري نده چي خپله به يي نیکمرغي نصیب شي.

= خندا د ژوند له ستونزوسره د جنګ ډیرهستره وسیله ده .

= کله چي ژوند درته د ژړیدو سل لاري ښي،تاسو ورته د خندیدو زر لاري وښيي.

= د ښو کتابونو لوستل،دښو او شرافتمندو کسانو سره خبري کول دي.

= تر ګټلو په ډیرو څټلو له ستونزو نسي خلاصیدای.

= بد اخلاقه کسان خپل پردي کوي،او نیک اخلاقه کسان پردي خپلوي.

= کوم خلګ چي په خپلو کارونو کي بوخت دي،نو هرڅوک به يي عزت او درناوی کوي.

= ویښووڼکي کارونه وکړي،د چلم،سکریټ،نسوارو څخه ځانونه وساتي.

= دغم ،سستی، او ناهیلی پیدا کونکي کتابونه مه ګوري.

= ته په خپل زړه کي ده هغو نعمتونو خزاني یادي ساته ، چي الله ج درکړي دي.

= د خلګو سره تروشي او قهرجنی خبري مه کوه،نرمي او خوږي خبري ورسره کوه.

= د الله ج څخه حیاء کول تر ټولو ستره نیکي ده.

= تر ټولو غوره ملګري مو هغه دي، چي نیمګړتیاوي مو در په ګوته کړي.

= هغه خلک څومره بد خلک دي،چي د نورو د مجبریتونو څخه ګټه پورته کوي.

= فقیر او مسکین د ځینو نعمتونو بي برخي وي،خو بخیل د ټولو نعمتون بي برخي وي.

= شیطانی سترګي په نورو کي هم شیطانویني.

= د توکل مطلب داندي، چي د خپل ځان لپاره د مال او روزي لټون پریږدي.

= د ژبي ښویدل د پښو د ښویدلو څخه زیات خطرناکه دي.

= علم داسي دریاب دي چي هر څومره او به ترینه استعمالوي نه کمیږي.

= په دي مه ځوریږه چي ولي لوړ مقام ته نه يي رسیدلي،په دي و ځوریږه چي ولي دي دلوړ مقام لیاقت ندي پیدا کړي.

= د کار پیل دهغه د پای زیري درکوي.

= نوي ملګري دي پیداکړه، مګر زاړه ملګري دي هم له لاسه مه ورکوه.

= په لویو فکرونو کي فکر وکړه،اما له وړو خوښیو څخه خوند واخله.

هیڅکله څوک مه ناهیلي کوه ، کیدای شي هغه به له هیلي پرته بل هیڅ نلري.

= هیڅکله خپل بریالیتوب د واقع کیدو څخه د مخه مه اعلانوه.

= د روغتیا خاوند هیلي لري،او د هیلو خاوند هرڅه.

= بریالیتوب دهغه چا په برخه وي چي تر نورو زیات استقامت ولري.

= ډاډمن اوسي، له هر ماښام وروسته سبا راځي.

= سخت کار وکړه،سخته لوبه وکړه ، او نړي ته بدلون ورکړه.

= هر وخت چي کولای سي نوي او تازه ګل کورته راوړه.

**= خلک ډېر دي،بیخي ډېر،تاسي له هغو خلکو سره ناسته پاسته وکړي چي تاسي تشویقوي،له تاسو سره د ښه چلند خیال لري،او ستاسو په خوشحالی خوشحالیږي.**

**= خوښي خپله نه راځي، تاسي ورپسي ورسي او راپیدا یي کړي.**

**=که چیري د کامیابي او نعمتونو په لټه کي ووځي،هغه به هر ځای کي پیداکړي.**

**= بدلون زموږ تر ټولو مهم ملګري دي.**

**= څوک چي د چانس په هیله ژوند کوي، څو کاله مخکي مړ دي.**

**=هر کار چي تر سره کوي یي ، ښه او لومړی درجه ووسه.**

**= داسي ستونزه نسته چي تاسي یي په حل ونتوانیږي.**

**= که ژوند ډېر څه نه در کوي،معنا یي داده چي ډېر څه مو تري غوښتي ندي.**

**= زړه نا زړه خلک هیڅکله نه بریالي کیږي.**

**= هغه څه چي خطر ناک دي،پورته ختل ندي،له پورته ځایه رالویدل دي.**

**= لکه څنګه چي یاست، هم هغسي ووسي.**

**= بخت او بریا هغه چاته ورځي چي په کار باور ولري، نه په چانس.**

**= د انسان ژوند د اوسپني په شان دي که کار ورڅخه واخستل شي ځلانده کیږي او که کار ورڅخه وانه خیستل شي زنګ یي خوري.**

**= بیکاري د انسان ټولي وړتیاوي او صلاحیتونه له منځه وړي.**

**= ده ټولو انسانانو وینه یو رنګ ده،خو وړتیاوي یي د اسمان او ځمکي په اندازه توپیر لري.**

**= د ځان سموني او ځان جوړوني لپاره هیڅ وخت ،ناوخته ندي.**

**= عمل تر الفاظو په لوړ اواز لوړیږي!**

**= که نه پوهیږي، چي چیرته ځم هیڅ ځای ته به ونه رسیږي.**

= په بحث کې د بریالیتوب غوره لار په بحث کې ګډون نه کول دي.

= قوت د متو په زور کي نه د ارادي په زور کي دي.

= پیسي د ژوند لپاره دي نه ژوند پیسو لپاره .

= خوښي په شیانو کي نسته خوشي په موږ کي ده .

= عادي خلک امیدونه لري، او پر ځان باوري خلک ، هدف او پروګرام لري.

= د هري ورځي حساب جلاء دي،نن،نن دي او له پرون او سباء سره هیڅ روابط نلري.

= د نورو نیکمرغي زموږ ده نیکمرغي یوه څانګه ده.

= هغه څوک چي قدر او احترام دي لري،تر مرګه یي احترام کوه.

= کمي وریجي چي په ګوله کي درڅخه پاتیږي، بیرته یي په غوري کي مه اچوه.

= ځان سم کړه ، ټوله نړي سمه ده .

= تر ټولو غوره شتمني، هوښیارتیا ده.

= زموږ د ژوند لمړی هدف له نورو سره مرسته کول دي.

= که غواړي لوړ مقام تر لاسه کړي، نو کوچنی فکر کول بس کړه.

= کله چي تاسو لوړ الوځي، خلک درپسي ډبري ګوزاروي.لاندي مه ګوره نور هم لوړ والوځه تر څو ډبري درپسي در ونه رسیږي.

= که تیاره نه وي ستوري هم نشي ځلیدلي.

= د ریشتیا ویونکي په اندازه هیڅوک هم دومره کرکه کوونکي نلري.

= ژوند دوه قوانین لري ۱-هیڅکله ستونزو ته مه تسلیمیږه ۲-لمړی قانون تل په یاد لره.

= که له خوبه پاڅیږئ او موخه نلرئ نو بیرته ویده شي.

**= واقعي جهنم په يوه کلمه کي شتون لري؛ يوازيتوب.**

**= د خپلي خولي تر خلاصولو مخکي دي ذهن خلاص کړه.**

**= وخت داسي يو ډاکټر دي چي د هر غم او خواشيني درملنه کوي.**

**= دري شيان د ډيري مودي لپاره نه پوټيږي ۱- لمر ۲- سپوږمۍ ۳-ريښتيا**

**= پوهان خبري کوي خو هوښياران ورته غوږ نيسي.**

**= مينه ړنده ده ، او کينه کڼه ده.**

**= د ټولو بد مرغيو ريښه د پيسو کموالي دي.**

**= د انسان په ژوند کي دري شيان اړين دي ۱ مهرباني ۲- مهرباني ۳- مهرباني**

**= هغه کتابونه چي نن يي لوستلای شي تر سبا يي مه پريږدي.**

**= څوک چي ستا لپاره دروغ ويلای شي، نو ستا په خلاف يي هم ويلای شي.**

**= مثبت کړووړه د مثبتي نتيجي سبب کرځي.**

**= د لوی زهن خاوندان يوازي فکر کوي،او تل ليکنه کوي.**

**= د بوختو ميندو لورګانی لټي او ټمبلي وي.**

**= پلار يعني هغه څوک چي هيڅکله يي مينه درسره پای نه مومي.**

**= پلار يعني هغه څوک چي هميشه دي ساتنه کوي.**

**= مينان ړانده وي خو واده يي سترګي بناء کوي.**

**= هيڅوک هم د پلار په شان ستاسو ساتنه نشي کولي.**

**= هيڅوک د مور په شان تاسو ته مينه نشي در کولای.**

**= که يي هيله لري نو لاسته راوړلای يي هم شي.**

= د ښه ملګري لاسته  راوړل کال نيسي، خو د لاسه ورکول يي يوه دقيقه نيسي.

= ښه کوه له تاسره به هم ښه کيږي.

= قيمت ته يي مه ګوره بلکي د ارزښت په اړه يي فکر کوه.

= سخت کار کوه،تل مثبت فکر کوه او سهار وختي پاځيږه.

= که نه غواړي چي سبا ته وښوييږي،نو نن ريښتيا ووايه.

= بيت دي،کلي لوی دي،خلک ډيردي خو ويده دي- په ويدو د ويښو خلګو باداري ده .

= د خپلي پوهي په زياتوالي کي د نورو خلګو دنظرياتو څخه ګټه واخله.

= ستا اوسنی ژوند ستا د پروني انتخاب ثمره ده.

= له ځانه خبر انسان هغه انسان دي،چي پوښتني کوي، پلټني کوي.

= د انسان ټول اعمال دده د فکرونو او باورونو پايله ده.

= خپل ځان ته ددي اجازه ورکړه چي خوشحاله ووسي.

= کوم څه چي لري په هغه شکر وباسه،کوم څه چي نلري پلټنه يي وکړه .

= په دي فکر کي مه کيږه چي «څښي شوم»په دي فکر کي شه چي«زه به څښي کيږم».

= که پر غلطه لار روان وي، ده بيرته راګرځيدو څخه مه ويريږه.

= ښيګڼه تر ټولو غوره سياست دي.

= سوله په يوي مسکا سره پيل کيږي.

= په پيسو سره کور اخستلي شي، خو کورني نشي اخستلای.

= په پيسو سره کټ اخيستلي شي، خو خوب نشي اخستلای.

= په پيسو سره ساعت اخيستلي شي، خو وخت نشي اخستلای.

= په پیسو سره کتاب اخستلای شي، خو علم او پوهه پرې نشي اخستلای.

= په پیسو سره مقام( څوکي) اخستلای شي،خو عزت نشي اخستلای.

= په پیسو سره وینه اخستلای شي،خو ژوند نشي اخستلای،یعني پیسي هرڅه ندي.

= ریښتنی خلک ډیر کم دوستان لري.

= معناداره خاموشي همیشه د بي معنا خبرو غوره ده .

= که د یو بل سره مینه لري، نو یو په بل باور هم ولري.

= باور د پنسل پاک په شان دي ،ده هري غلطۍ تر پاکولو وروسته کوچنی کیږي.

= مینه له میني پیدا کیږي.

= خندا د ټولو ناروغیو او سختیو تر ټولو ښه دارو او درمل دي.

= له تشي پیالي څه نه تویږي.

= مرغان چي په پنجرو کي پیداشي، فکر کوي چي الوتنه یو ناروغي.

= په ژوند کي ښه خلک در ته خوشحالي درکوي،او بد خلک درته تجربې درکوي.

= مهرباني هغه ژبه ده چي کاڼه یي او ریدلي شي،او ړانده یي لیدلي شي.

= که په ژوند کي یو ښه ملګري ولري.نو تاسو تر ټولو شتمن شخص یاست.

= یوه ښه میرمنه تل د خپل میره له تیروتنو ورتیریږي، او ښښنه ورته کوي.

= پیاوړي خلک نور پر ځمکه نه غورځوي، بلکي له ځمکي یي راپورته کوي.

= هرڅه به تر لاسه کړي؛په مناسب وخت کي! یوازي صبر او زغم ولره.

= ټول هغه شیان چي ژوندي وي پر هغوي مهربانه ووسه.

= د نن لوستونکي د سبا رهبران دي.

= د اتل په څير اوسه او دا خبره هميشه وايه «زه نه ويريږم».

= هر کار چي کوي له نرمي څخه کار اخلي.

= بخښنه کول يوه ډالۍ ده، چي تاسو يي نوروته ورکوي.

= که پر يو چا ګران وي، نو د چا د ګرانښته ناوړه ګټه مه پورته کوه .

= که يو څوک در ته اړتيا لري،مصروفيت ورته مه پلمه کوي.

= که يو څوک درباندي باور لري،نو هيڅکله هم ورته دوکه مه ورکوي.

= که د يو چا تل په ياد وي،نو تاسو يي هم هيڅکله مه هيروي.

= د نن لوستونکي ماشوم څخه د سبا متفکر شخص جوړيږي.

= د يوڅه د زدکولو لپاره خطر په ځان منل تر ټولو غوره لاره ده .

= سالم عقل د يو ګل په شان دي، د هر چا په باغ کي راشين کيږي.

= موږ د خپلو والدينو په مينه هغه وخت پوهيږو، چي خپله والدين شو.

= ده توکل مطلب دا نه دي، چي د خپل ځان لپاره د مال او روزي لټون پريږدي.

= که ژوند شاته کشولوي،نو مه نا اوميده کيږه،غشه د مخ تګ لپاره بايد شاته کش شي.

= که غواړي چي د عزت او احترام خاوند شي، نو د خپل مور او پلار احترام وکړه.

= که چيري د خپل ګناهونو کمول غواړي، نو استغفار ډير وايه.

= که غواړي چي د مفليسي څخه ځان خلاص کړي هميشه خيراتونه کوه.

=د ملګرتيا ښايست په دي کي دي. چي بايد د يو او بل خبري وزغمل سي.

= د ښو او بدو خلګو سره وګرځي، د ښو انسانيت زدکړي،له بدو ژوند زدکړي.

= داسي وخت راروان دي، چي خلک به په نيکيو شرم او په بديو به وياړ کوي.

= لږي خبري کوه.

= د دوستانو احترام کوه.

= د نن کار سبا ته مه پريږده.

= ويل شوي خبره بار بار مه تکراره وه.

= لمونځ هغه قسم چي ښايي ادايي کړه.

= له بدانو او جاهلانو سره چې پيسي هم درکوي، خبري مه ورسره کوه.

= د مور او پلار وجود غنيمت وګڼه .

= ښوونکي دمور او پلار په شان وګڼه.

= د نورو مال او مقام ته طمع مه کوه.

= د خپلوانو سره خپلوي مه پريکوه.

= د ولاړو خلګو په حضور کښني مه کينه.

= له مشرانو سره اوږدي خبري مه کوه.

= ادب او عاجزي هيڅکله مه هيروه.

= هيڅوک د چا په مخکي مه رسوا کوه.

= تيره شوه دعوه او دښمنۍ مه تازه کوه.

= د نورو نصيحتونه او مشوري مه هيروه .

= په بد کاري کي د چا سره لاس مه يو کوه .

= خپل رازونه دي له ځانه سره وساته.

= که زنا کاره درته يو متر نږدي کيږي،نو زر متره ور څخه ليري کيږي.

**= له نورو سره په کبر او غرور رفتار مه کوه.**

**= د مشرانو احترام، او پر کشرانو مهرباني کوه .**

**= له نیکو او ایمانداره خلګو سره مشوره کوه.**

**= محتاجه کسان له خپل مال او دارایي څخه مه محروموه.**

**= د ښځي او اولاد د بي ځایه غوښتنو پیروي مه کوه .**

**= له عالمانو او هوښیارانو خلګو سره تعلقات وساته .**

**= پوشه چي هیڅ شی له الله ج نه پټ ندي .**

**= هغه څه چي الله ج درکړي، پري خوښ او سه.**

**= هر څومره چي کولای شي،د میلمه سره مهربانه اوسه.**

**= په لږ ویلو ،لږخوړلو او لږ ویده کیدلو ځان عادت کړه.**

**= له بد کارو نه هیڅ وخت د نیکي او ځوانی طمع مه کوه .**

**= په نورو باندي مه په غوصه کیږه، په نرمي ورسره خبري کوه.**

**= مه غوسه کیږه!!! ځکه غوسه بدن داسي سوځي لکه لرګی چي اور سوځي.**

**= د انسان لویه شتمني،ښه اخلاق، پاک وجدان،نیک نوم، انسانیت او عزت دي.**

**= جومات د اخرت بازار دي،کتاب ښه ملګري دي، قبر ښه کور دي.**

**= ښه له خلګو سره کوه بدله یي د الله ج څخه غواړه.**

**= هیڅکله په ژوند کي د چا زړه مه ازاروه ، ځکه چي تر بخښنی وروسته هم په زړه کي درد پاتیږي.**

**= د مظلوم او لمونځ ګوزاره له آه څخه وویریږي.ځکه آه یي د الله ج ته رسیږي.**

= په تاسو کي غوره هغه څوک دي چي خپله قرآن زدکړي،او نوروته يي ورسوي.

= چاچي پدي دنيا کي د يو مسلمان ستونزه حل کړه،الله ج به يي په دقيامت په ورځ کي ستونزي حل کړي.

= الله ج د هغه چا لمونځ نه قبلوي، چي حرام مال يي په خيټه کي وي.

= توبه- ګنا خوري\غيبت-عمل خوري\غصه-عقل خوري\دروغ- رزق خوري.

= دا فکرمه کوه چي الله ج دعا ژر نه قبلوي.دا شکرکوه چي الله ج زموږ د ګناهونو سزا ژر نه راکوي.

= د خپل ورور په تکليف باندي مه خوشحاليږه.هسي نه چي الله ج هغه تکليف تاته درکړي

= څه وخت چي فقير ته خيرات ورکوي،ډير په خندا او آدب يي ورکوه.

= چيرته د سپکو خلکو سپکه لهجه- چيرته درانه خلک درني خبري.

= د ژوند ستره موخه علم نه بلکي عمل دي.

= خنداء هغه ژبه ده چي د ټولو ملتونو خلک پری پوهيږي.

= څوک چي درسره دی قدر يي وکړه،ډيرو ته يي فقط نښي پاته دي.

= که غواړي نړي ته بدلون ورکړي، نو خپلي کورني ته مو مينه ورکړي.

= بی ارزښته خلک يوازي ددي لپاره ژوند کوي چي وخوري او وڅکی.

= هڅه مه کوه چي لوړ او عالي شخص ووسي،بواځي له پرون ورځي ښه ووسه.

= پلټونکي اوسه، نه قضاوت کونکي.

= ښکلا توجه راجلبوی،خو اخلاق زړه راجلبوي.

= په کال کي يواري داسي ځای ته ولاړ سي ، چي هيڅکله مو نه وي ليدلي.

= مور که بي سواده یا سواد لرونکي وي،هغه د نړي تر ټولو غوره لار ښوونکي ده.

= که ده خپل ځان اداره کول دي زده کړه، نو تاسو د هر څه استاد یاست.

= یوه موردوه ویشت کاله خواري کاږي، چي له خپل ماشومه یو ښه شخص جوړ کړي،لیکن د هغه ښځه یي په دوه ویشت دقیقو کي تري احمق شخص جوړوي.

= که څوک د خپلو شته شیانو شکر ادا نه کړي،نو هیڅکله به خو شحالي ونه ویني.

= که غواړي کامیابه ووسي، نو د مور، پلار، او ښوونکي لاره مه پریږده.

= تر ټولو مهم څه هڅه کول دي.

= ځیني وخت خاموشي د خبرو څخه ډیره دردونکي وي.

= د کم عقل په وړاندي چپ پاتي کیدل تر ټولو لوی ځواب دي.

= پیسي شمیر دي، شمیر هیڅکله هم پای ته نه رسیږي.

= که یوازي وي فکرونو ته دي پام کوه،که له خلګو سره وي خبرو ته دي پام کوه.

= له خولي خلاصولو مخکي دي ذهن خلاص کړه .

= که دي له ژونده بد فکره خلګ وشړل، نو ژوند درته اسانه کیږي.

= د څراغونو ښې مختلفي وي، خو دوي ټول یو ډول رڼا کوي.

= لمر ډیر یوازي وي، خو بیا هم همیشه ځلیږي.

= ځان ته داسي کوټه اختیار کړه ، چي په هر کونج کي یي کتابونه پراته وي.

= پاک وجدان تل تر خیرونو جامو لاندي.

= مینه د تیزي هوا په څیر ده.لیدلای یي نشي خو احساسولای یي سي.

= د کتاب په څیر ریښتیني ملګري هیڅوک هم نشته.

**= ستا ښه ملګري هغه دي چي دري ورځي يي ونه ويني يادېږي دي.**

**= ناوړه شيان هيرول،نعمتونه يادول،د خلګو عيبونه پټول، د نيکمرغي نښي دي.**

**= ښه سړی د خپل ځان ښه ملګري دي.**

**= تر اندازي زياته آزادي انسان او ټولنه غلامي ته کشوي.**

**= کار کول ورځي لنډوي،خو ژوند اوږدي.**

**= پاک خدای ج پاکو لاسو ته ګوري، نه ډکو لاسو ته.**

**= کم ځای کي چي هوښيار وي، هلته زورور ته ضرورت نسته.**

**= الله ج هر الوتونکي ته دانه ور کوي، خو ځالي ته يي نه ور اچوي.**

**= ته نړي ته نابغه نه يي راغلي، بايد په کراره کراره نابغه له ځانه دجوړ کړي.**

**= د کاميابي لار د ناکاميو سره تيرېږي.**

**= مينه يوازي په مينه کولو سره زده کيږي.**

**= انسان ده يو رود په شان دي، هر څومره چي ډوبيږي،هغومره ارام درومي.**

**= هغه څوک چي د کوچني شي په قدر پوهيږي،لوی شيان به لاسته راوړي.**

**= هغه لاسونه چي مرسته کوي،له هغو خولو نه ښه دي چي عبادت کوي.**

**= عجبه نده، موږ په يوه لاس مشکل جوړوو،په بل لاس يي له منځه وړو.**

**= له ياده يي مه باسي شرم د ټولو نيکيو کيلي ده .**

**= د غم بهترين علاج دادي چي يا قبول شي ، يا هير شي.**

**= قهر او غوصه هغه باد دي ،چی زموږ د ذهن څراغ وژني.**

**= يوه دقيقه په قهر کيدل،د شپږسوه ثانيو خوشحالي له لاسه ورکول دي.**

= انسان د خپلي ژبي تر شا پټ دي.

= پر خپل ځان ، خپل توان،خپل بریالیتوب باور ولري.

= پریږده چي نور ورته دنیا ولري، مګر ته نه.

= ځوک چي تل د ځان په فکر کي وي، بي تربيي سړی دی،که ډیري زدکړي هم ولري.

= وړو انسانانو ته لوی احساس ورکول، ستاسو په ګټه دي.

= ښه پیل ښه پای لري.

= ځوک چي غلطي نشي کولي، هغه هیڅ نشي کولای.

= د نړي تر ټولو لوی طاقت ، د یوي ښځي ځواني او ښکلا ده .

= د مرګ په نوم څه نشته یوازي د یوي نړي بدلیدل دي بلي نړي ته.

= زما ښه دوست هغه دي، چي ماته داسي کتاب راکړي، چي تر اوسه ما نه وي لوستلي.

= یوه ورځ د زمري ژوند، ده سل کاله د چغال له ژونده بهتره دي.

= د نابغه ګانو او لیونیانو ترمنځ فاصله یوازي په بریاوو اندازه کیږي.

= که غواړي راتلونکي تعریف کړي، نو تیر یو ځل مطالعه کړي.

= هغه کوټه چي کتابونه پکښي نه وي،د هغه جسد په څیر ده چي روح پکښي نه وي.

= زموږ تر ټولو ستره شتمني زموږ د ماشومانو ذهنونه او فکرونه دي.

= که پیسه داره یاست ،نوخلک مو پیسو ته عزت کوي، نه تاسو ته.

= غریب خلک هیڅ دوستان نلري.

= که غوصه یاست چاته ځواب مه ورکوي،که خوشحاله یاست چاته وعده مه ورکوي.

= مرغي چي کله ژوندي میږان خوري، خو کله چي مړه شي بیا یي میږان خوي،

**= د خلګو سره مرسته وکړه ، که څه هم پوهیږي چي هغه درسره مرسته نه کوي.**

**= بریالي خلک همیشه په شونډو دوه شیان لري ۱- موسکا ۲- خاموشي**

**= ریښتیني دوست ستا ښه صفتونه ستا په نه شتون کي کوي،او بد صفتونه ستاپه مخ کي**

**= د زړو خلګو عزت وکړه، که تاسي ځوان یاست.**

**= د کمزوري سره کومک وکړه، کله چي تاسي قوي یاست.**

**= بریالي خلک هیڅکله په ارامه نه کښیني.**

**= په ارمه کیناستونکي خلک هیڅ کله هم نه بر یالي کیږی.**

**= ځیني خلک عالي ژوند نه غواړي، بلکي خوشحاله ژوند غواړي.**

**= خاموشه خلک تر ټولو اوچت( لوړ) فکرونه لري.**

**= تاسو به هیڅکله زړور نشي، که څوک درته زیان ونه رسوي.**

**= تاسو به هیڅکله څه زده نکړي، چي غلطي و نکړي.**

**= تاسو به هیڅکله کامیابه نشي، که ماتي ونه خوري.**

**= مینه د هغه چاسره وکړه چي ستا زړه یي غواړي، داستا ژوند دي، نه د خلګو.**

**= یو ښه کتاب د سلګونو ښو ملګرو سره برابر دي، لیکن یو ښه ملګري د زرګونو کتابونو سره برابر دي.**

**= خدای ج د هغه چا سره مرسته کوي چي سخت کار کوي.**

**= که غواړي چي د لمر په څیر وځلیږي، نولمړی د لمر په څیر وسوځیږه.**

**= په ژوند کي هیڅکله هم شاته مه ګوره.**

**= مینه هغه جال دي، چیرته چي زړونه د ماهیانو په شان پکښي بندیږي.**

**= تعلیم د یو قوم لپاره مضبوط بنیاد دي.**

**= د خلګو په شلیدلو جامو پسي مه ګوره.په پاک وجدان  او نیکو اخلاقو پسي ګوره.**

**= دوه انسانان خپل فکر نه بدلوي،مړ او جاهل.**

**= هغه ګنا چي د چا عمر کموي، له میرمني سره بد چلن دي.**

**= په ګومه ګنا چي په انسان لعنت ویل کیږي، دروغ ویل دي.**

**= له کومي ګناه چي رزق بندیږي زنا ده.**

**= له کومي ګناه چي څوک بدنامیږي، نشه ده.**

**= له کومي ګنا چي ټول انسانیت تبا کیږي،قتل دي.**

**= له کومي ګناه چي نعمتونه کمیږي،غرور او تکبر دي.**

**= ژبه هیڅ هډوکي نه لري،خو بیا هم دومره کلکه ده چي زړونه ماتوي.**

**= سل زړونه مه خپلوه، بلکي یو زړه سل کاله وساته.**

**= خبري کوه اخلاق مه هیروه.**

**= فیصله کوه انصاف مه هیروه.**

**= علم کوه عمل مه هیروه.**

**= مینه کوه وفاء مه هیروه.**

**= دعا کوه یاران مه هیروه.**

**= شوق کوه مرګ مه هیروه.**

**= ژوند د ایسکریم په څیر دي،د ویلي کیدولو څخه وړاندي تري خوند واخله.**

**= که د سلو کسانو ګیډي نشي مړولای،نود یو کس ګیډه مړه کړه.**

= تاسو چې هر چاته موسکا کوي،په حقیقت کې تاسو هماغه شخص ته ډالۍ ورکوي.

= که غریب وزیږیدلي، نو ستا تیروتنه نده- که غریب مړ شوي، بیا ستا تیروتنه ده.

= د هري توري شپې وروسته روڼ سهار راتلونکي دي.

= په جګړه کې خیر، او په سو له کې بد نشته.

= یو دروغجن ملګري د زرو دښمنانو څخه خطرناکه کیدلي شي.

= که مینه کول غواړو نو لمړی باید ښښنه کول زدکړو.

= وړ تیا او هنر د غریب سړي شتمنۍ ده .

= له ځان سره تل وایه ، زه کړیږم خو ماتیږم نه .

= اوریدل زدکول دي،ته چې کله غوږ نیسي ټوله هستي تاته خبري کوي.

= هغه څه چې پخپله نه ترسره کوي.نوروته یي هم مه ور زده کوي.

= هغه څه چې په خوښي او خوند سره زده کوو،هیڅ وخت له یاده نه وځي.

= هیڅکله ده وسلي سره عکس مه اخله.

= هیڅکله قلم چاته مه غورځوه.

= د یوي ورځي لپاره سل ملګري مه پیدا کوه، بلکې د سلو کالو لپاره یو ملګري پیدا که.

= د مسلمان غیبت کول ،او د مړه ورور غوښي خوړل هیڅ توپیر نلري.

= که همسایه درڅخه زهیر شو، نوره ګناه مه کوه داغه دي بسته.

= لږ وایه، ډیروته غوږ نیسه.

= هر ځای نوبت مرعاتوه.

= که ته ځان اصلاح کې ، ټوله نړي اصلاح ده.

= له ګناه کولو وروسته استغفرالله ډېر وایه.

= به غیر له ضرورته بازارونو ته مه ځي.

= په اخترکي له ضرورته پرته ډېر مصرفونه مه کوه.

= هغه څوک چي خولۍ نه پر سر کوي، په زړه کي يي غرور شته.

= کله چي پوښتنه وکړي ، نو ځواب به حتماً تر لاسه کړي.

= مخکي له دي چي باید حالات اداره کړي، لمړی ځان اداره کړه.

= دردونه هير که خو د يو چا مهرباني هيڅ کله مه هيروه.

= څوک چي ډيري خبري کوي، ژر ستړي کيږي.

= راتلونکي د نن څخه پيل کيږي، نه ده سبا څخه .

= صادقه، بي تمي،ګتور او هميشنۍ ملګري د هر چا کتاب دي.

= د مغروره خلکو په وړاندي مغروره اوسه،ځکه ستا مهرباني ستا کمزوري بولي.

= تل اماده او سه او تل ريښتيني.

= که غواړي ځان او نور خوشحاله کړي، نو خواخوږي،او مهرباني تمرين کړه.

= چټک اوسه خو د بيړي کار مه اخله.

= د دار ختلي مجرم په کور کي به د رسي خبري نه کوي.

= د موږک په سترګو کي پيشو هم زمرى ښکاري.

= ښي وني ښه حاصل ورکوي.

= مينه د جنګ په څير ده،پيلول يي اسان،ختمول يي ګران،خو هيرول يي ناشوني ده.

= ښه ژوند کول ښه نصيحت دي.

= داور بلولو په وخت کي ټول خلګ درته راځي،خود ایرو ټولولو په وخت هیڅوک هم نه.

= اړتیا هیڅ قانون نه پیژني.

= د تیارو وروسته پیشوګاني هم پړانګان ښکاري.

= ناپوهان د اوبو په منځ کي هم تږي وي.

= د هرشي پیل کمزوري وي.

= په هر حالت کي ریښتیا وایه، او ورپسي منډه کوه.

= په لومړي ځل کتاب لوستل، د یوه نوي دوست سره د لیدلو په شان دي.

= که ماهیان نشي نیولای، نو سیند مه ملامته وه .

= ماشومان د ژوند ډالۍ ده، ښه سمه روزنه ورکړي.

= په خیرات سره هیڅکله غریب کیدلای نشي.

= په غلا سره هیڅکله شتمن کیدلای نشي.

= په شتمنۍ سره هیڅکله هوښیار کیدلای نشي.

= موږ لومړۍ ناپوهان وو، خو تجربو رانه هوښیاران جوړ کړه.

= د دروغجن په خوله کي ریښتیا هم شکمن ښکاري.

= چاچي د خوبونو لیدل بس کړه هغوی ماته وخوړه.

= د هغو خلګو سره وخت مه تیروي، چیري چي مو عزت نه کیږي.

= خبري وزرونه نلري. خو زرګونه میله لیري تللي شي.

= که دوستانو او ملګرو سره وخت تیر کړي، نو بد وختونه ژر هیرولای شي.

= په زور سره هیڅ هم ښه کیدلای نسي.

= د اوبو سره وچه ډوډي ،له هغه کیک ښخه غوره ده چي سړي ته تکلیف پري جوړیږي.

= تبر تل دا هیروي چي ونه ځوک ده.

= لکه څنګه چي صابون بدن پاکوي،همداسي اوښکي روح پاکوي.

= یوالي قوت دي، بیلوالي کمزوري.

= که غواړي هوښیار شي، نو ډیري خبري مه کوه.

= یوه نن ورځ تر راتلونکو لسو ورځو بهتره دي.

= د یو شي په اړه د سل ځله اوریدولو ښخه یو ځل لیدل بهتره دي.

= د زړورو کسانو مرګ یو ځل وي، د ډارنو سل ځله.

= کومو کسانو چي د ترخو شیانو خوند نه وي څکلي،د خوږو شیانو په قدر نه پوهیږي.

= که غواړي چي عزتمن شي، نو لومړی خپل ځان ته عزت ولره.

= که ښه ملګري غواړي، نو خپله هم ښه و اوسه.

=د هوښیار پلار لوښي هوښیاري وي،د هوښیاري مور زامن هوښیاران وي.

= خبر اوسه یو دښمن تل درسره د کمپلي لاندي ویده کیږي.

= یوه ثانیه وخت په یو انچ طلا نشي اخیستلای .

= حقیقتونه، او سره ګلونه دواړه اغزي لري.

= ځوک چي له مرګه ویریږي، له ژونده خوند  نشي اخیستلای.

= ټول ستا سره خندیدونکي کسان ستا دوستان ندي.

= وینه په وینه نه مینځل کیږي.

= که ته همدا اوس دغه خط لوستلای شي، نو له ښوونکي څخه دي مننه وکړه.

= مناسبه خندا او مناسب خوب د هر شي لپاره ښه سمه درملنه ده.

= زیاتره وخت د ځینو خلکو پوزي، د هغوي له خولو څخه ماتیږي.

= د ملګري سترګي د خپل ځان د لیدلو لپاره تر ټولو ښه هنداره ده.

= د هرشي درملنه چي کوي، مرګ نومیږي.

= په مهرباني سره د اوسپنې دروازي هم خلاصیږي.

= جاهلان په یوه ساعت کي دومره پوښتني کولای شي، چي پوهان یي په سل کاله نشي ځوابولای شي.

= کتابتون د ذهن د روزولو، دوایي او ساتنځی دي.

= مرګ د ژوندانه ناوي بلل کیږي.

= استادان یواځي دروازي خلاصوي،شاګردان باید خپله ورننوځي.

= که یو نسل ونې کینوي، بل نسل به یي سیوري ته کیني.

= د عالم سره یو ساعت خبري،د لس کاله مطالعي څخه غوره دي.

= ښکلا د ښځي هوښیارتیا ده، او هوښیارتیا د نرو ښکلا ده.

= د ټولو دوست، د هیچا دوست ندي.

= مات لاس کار کولای شي، خو مات زړه نه.

= زمری چي ښکار نکړي پیدا ، له مجبوري واښه ژویي.

= د ملخانو جنګ ته کار غه خوشحاله وي.

= خندا هغه ژبه ده ، چي د ټولو ملتونو خلک پري پوهیږي.

= خوښي شریکول خوښي دوه چنده کوي،غمونه شریکول غمونه نیمی کوي.

= هوښياران خپلي پريکړي خپله کوي، جاهلان د نورو په خبرو پسي ګرځي.

= هري مورته خپل ماشوم د نړي ښايسته ماشوم ښکاري.

= د ميني لرونکي زړه ځښتن هميشه ځوان وي.

= د کتابونو لوستل د زړه غمونه کموي.

= دردونه درنه هوښيار شخص جوړوي.

= د ښه دوست د کور لاره هيڅ وخت اوږده نه وي.

= غمونه د وخته وړاندي د سړي وريښته سپينوي.

= وخت وزرونه لري، هر وخت درځخه الوتلي شي.

= مخکي له دي چي تږي شي، د ځان لپاره کوهی وکينده.

= ړوند هم کله نا کله کارغه ولي.

= لمر د ټولو لپاره يو شان راخيژي.

= د ښه دوست په څير بله ښه هينداره نشته.

= پام نهه لسو ته ډير نږدي دي.

= د يوي وني پوټکي په بله ونه پوري نه نښلي.

= د يوي مسکا په کولو سره، ستاسو عمر لس کاله زياتيږي.

= کله چي د پلار لاره تعقيب کړي، نو د پلار په لاره به تلل هم زده کړي.

= ځيني خلک په يوه ډبره دوي مرغي ولي.

= هوښيارتيا ده اور په شان ده ، خلک يي له نورو اخلي.

= که چا خپه کړي ببښنه ورته وکړه ، که مو څوک خپه کړه ببښنه تري وغواړه.

= په لويه څوکي کښينستلو سره له تاسو پاچاه نه جوړيږي.

= تاسو د هيچا څخه د هغه بخت نشي اخيستلای.

= په کم کور چي ښځه نه وي، لکه په ګوخانه کي دي غوا نه وي.

= هوښيار خلک خطونه هم سرچپه  لوستلای شي.

= کله چي غوصه وي، چاته ليک مه ليکه.

= يوازي يوه ښه او نيکه خبره مو دري مياشتي په ژمي کي تود ساتلي شي.

= هره ککري بايد خپل فکرونه وکړي.

= که غواړي چي حافظه مو قوي شي، نو خلکو ته پيسي په پور ورکړي.

= ژوند يو پياز دي، د سپينولو پروخت مو هتمآ ژړوي.

= که جاهل مو تعقيب کړ، نوتاسو له خپله ځانه جاهل جوړوي.

= د مشرانو مړينه د کتابتون د سوځولو په شان ده.

= په پيل کي تيروتنه ، په پای کي له تيروتني څخه غوره ده.

= هوښياري ميرمني د ويلو ډير څه لري، خو بياهم خاموشه وي.

= مينه د کوچني ماشوم په څير ده، مينه ناکي خبري غواړي.

= د ماشوم د زيږيدلو وړاندي ور ته جامي مه جوړوي.

= چيرته چي مينه وي، هلته پريشاني نه وي.

= تاسو له سپين ږيرو څخه په منډه کي مخته کيدلای شي،خو په هوښيارتيا کي نه.

= هڅه کولو او ناکاميدولو ته لتي نښو ويلای.

= خوشحاله اوسيدل د پاچاهي څخه غوره دي.

= د بد خويه زوی مور هم بدخويه بلل کيږي.

= څوک چي ښښنه کوي، کاميابي هم لاسته راوړي.

= څوک چي ډير پوهيږي، ډيري خبري نه کوي.

= که دي بد وکړل په ياد يي ولره، که دي ښه وکړه هير يي کړي.

= که د نارينه سره چا بد وکړل، هيروي يي خو ښښنه نه ورته کوي، که له ښځي سره چا بد وکړه؛ ښښنه ورته کوي، خو هيروي يي نه.

= ټول ريښتيا ښه وي خو د ټولو ويل ښه نه وي.

= ښه ګاونډی له هغه ورور څخه غوره دي، چي له تا څخه ليري دي.

= د واړه ماشوم عزت کوه، هغه به دي هم عزت وکړي.

= مچان هم غوړونه لري.

= وني په خپلو ريښو پياوړي وي.

=تاسو پوهيږي چي د چاسره مينه لري،خو تاسي نه پوهيږي چي څوک درسره مينه لري.

= په ګډه کار بغير له نظمه ګډوډي منځ ته راوړي.

= دوه ميړيان يو ملخ کشولي شي.

= د ماشوم خندا د کور رڼا ده.

= د چا په ظاهري حالت قضاوت مه کوه، شايد يو پاک زړه تر زاړه کاليو لاندي وي.

= هيڅ خبره نده، که تاسي په غلطه لار تللي ياست، بيرته راوګرځي.

= پوهه قدرت دي، پوهه غيرت دي، پوهه عزت دي.

= د ګلانو لپاره بايد اغزيو ته هم اوبه ورکړو.

= په ښو خبرو خواږه نه پيدا کيږي.

= ماشومان د مور په بدرنګي نه خاندي.

= فيلان که موږکان ووژني، نو اتلان ندي.

= ماشومان د روښانه سپوږمي په څير دي.

= هوښيارتيا پای ته نه رسيدونکي شتمني ده.

= د سختو ستونزو حل يوازي هوښيارن راباسي.

= له موره څخه هيڅوک هم هوښيار ندي پيدا شوي.

= هوښياران په هر څه کي ځان ته لار پيدا کوي.

= که تاسو له کبره ډک وي، نو د پوهي له پاره حافظه نلري.

= که دي ذدکړه؛ نو نورو ته به يي هم ورزدکړي.

= په ځواني کي زدکړه ، دتيږي د توږولو په شان ده.

= که ملګري دوستان دي راته وښودل، نو زه دي شخصيت درته ښايم.

= که مو له ښکلی ښځي سره واده وکړ، نو پوشه چي د ستونزو او مشکلاتو سره دي واده وکړ.

= که يو ځل دي دوکه کړم ته وشرميږه، دوهم ځل که دي دوکه کړم زه بايد وشرميږم.

= هره ورځ لږ بارن کولای شي چي سيندونه تل جاري وساتي.

= هغه څوک چي خواږه په چټکي سره خوري، نو خوله به يي هم سوځيږي.

= هغه سړی چي دروغ نشي ويلای ده واده دي لاس و مينځي.

= که آنا در ته څه وويل، نو له موره يي پوښته چي هغه ريشتيا دي.

= د جاهلانو دوست جاهل وي، د هوښيارانو دوست هوښياروي.

**قلم**

**که چيري مو قلم ورک کړ؛نوقلم درسره نشته.**

**که قلم نه وي،نو د درس نوټونه نشته.**

**که د درس نوټونه نه وي،نومطالعه نشته.**

**که مطالعه نه وي ،نو په ازموينه کي کاميابي نشته.**

**که کاميابي نه وي، نو اسناد نشته.**

**که اسناد نه وي، نو وظيفه نشته.**

**که وظيفه نه وي، نو پيسي هم نشته.**

**که پيسي هم نه وي، نو خواړه هم نشته.**

**که خواړه نه وي ، نو د بدن طاقت نشته.**

**که د بدن طاقت نه وي، د بدن ښکلا مو هم نشته.**

**که د بدن ښکلا مو نه وي، نو کوم مين مو نشته.**

**که کوم مين مو نه وي، نو واده نشته.**

**که واده مو نه وي ، نو ماشومان مو هم نشته.**

**که ماشومان نه وي، نو کورنۍ هم نشته.**

**که کورني مو نه وي، خوشحالي هم نشته.**

**که خوشحالي نه وي،نو صحت هم نشته .**

**که صحت نه وي ، نو ژوند هم نشته.**

**پام! ودي ليدل چي قلم درسره نه وي نو هيڅ شی هم نلري.**

= تمه او توقع همیشه درته درد رسوي.

= ژوند ډیر لنډ دي،له ژوند سره مینه ولره. او تل مسکا کوه.

= د خبرو کولو وړاندي غوږ ونیسه.

= د یوڅه د لیکولو وړاندي فکر وکړه.

= د یو څه د مصرفولو وړاندي، عاید یا پیسي لاسته راوړه.

= د دعا ویلو وړاندي ، نورو ته ببښنه وکړه.

= د نفرت کولو وړاندي، له خلګو یره مینه وکړه.

## ژوند له دریو شیانوڅخه جوړ دي

ګټل، بایلل،شریکول

۱: د نورو زړونه وګټه.

۲: بد خونده شیان له لاسه ورکړه.

۳: د خوښي شیبي له نورو سره شریکي کړه.

## دري ډوله کسان مه هیروه

۱:هغه څوک چي په سختو حالاتو کي یي له تاسو سره مرسته کړي ده.

۲:هغه څوک چی په سختو حالاتو کي یي له تاسو څخه مخ واړولو.

۳: هغه څوک چي ستاسو په ژوند کي یي سخت حالات رامنځته کړل.

## ولي مو خلګ غيبت کوي؟

**۱ :کله چي ستاسو سويي ته نشي رسيدلای.**

**۲ :کله چي کوم شيان تاسو لري، نور يي نلري،لکه، پيسي، جايداد.....**

**۳ :کله چي غواړي ستا د ژوند کولو طريقي په ځان کي عملي کړي،خو نشي يي کولای.**

## د ژوند دري مرحلي!

**۱: کله چي ماشومانوي.**

**انرژي مو درلوده.**

**وخت مو درلوده.**

**خو پيسي مو نه درلودي.**

**۲ : کله چي ځوانان وي.**

**انرژي مو درلودل.**

**پيسي مو درلودي.**

**خو وخت مو نه درلودي.**

**۳:کله چي سپين ږري وي.**

**پيسي مو درلودي.**

**وخت مو درلودي.**

**خو انرژي مو نه درلودل.**

# که خوشحاله ژوند غواړي؟

. د هيڅ شي څخه کرکه مه کوه.

.هيڅکله تشويش مه کوه.

تل ساده وواسه.

.تل نورو ته ببنه کوه.

ډير څه له لاسه ورکړه(بد ملګري، بد عادتونه......)

تل په شونډو مسکا لره.

. په ځان باور ولره.

.صحي خواړه وخوره.

.له منفي نظره خلکو ليري وواوسه.

. په ولاړه خوراک مه کوه.

# که خوشحاله ژوند غواړي؟

## هره ورځ:

**٠= ساعته تلویزون ګوره.**

**١=ساعت ورزش وکړي.**

**٢= لیتره اوبه و څښي.**

**٣= پیالي شین چای وڅښي.**

**٤= ځلي لنډه دمه وکړي.**

**٥= ځلي کوچني ناشته وکړي.**

**٦= بجو څخه مخته پاڅیږه.**

**٧= وخانده.**

**٨= ساعته خوب وکړه.**

**٩= بجو څخه هره شپه مخته ویده شه.**

**١٠= واري مننه وکړه.**

## که خوشحاله ژوند غواړي؟

۱۱ کارونه ډیر کوه، خبري کمي کوه.

۱۲ غوصه کمه کوه،خندا ډیره کوه.

۱۳ تشویش کم کوه،خوب ډیر کوه.

۱۴ موټر کم چلوه،پلي تګ ډیر کوه.

۱۵ غوښه کمه وخوره،سبزیجات ډیر خوره.

۱۶ الکولي مشروبات مه څښي،چای ډیر وڅښي.

۱۷ خواږه شیان کم وخوره،تازه میوي ډیري وخوري.

۱۸مشروبات کم وڅیښه، اوبه ډیري وڅیښي.

. کله مو چي یو ښه کار وکړ هیڅوک مو ستاینه نه کوي،که چیري یو نا وړه کار وکړ نو بیا هر یو در پسي خوله خلاصوي.

. کله چي تاسو مبارزه کوي، دا معنا چي تاسو پرمختک کوي.

. په اختر کي د هغو لاسونه ښکلوه چي یوه شپه درڅخه مشر وي.

.که تاسو د یو چا لپاره ۹۹ کارونه کړي، خو هغه شخص یوازی هغه یو کار په یاد لري چي تاسو ورته ندي کړي.

.هیڅوک ستا اوښکي ،دردونه، او خفګان نه شمیري،بلکي ستا غلطي هرڅوک شمیري.

. څومره مو چي عمر ډیریږي، هغومره مو پر خلکو باور کمیږي.

# اته نه هيريدونکي شيبي

۱۱ کله چي د لمرې ځل لپاره خپل مور او پلار ته تنخوا ورکړي.

۱۲ کله چي خپل نږدي دوست يا ملګري سره خبري وکړي.

۱۳ کله چي د خپلي ميني سره لاس په لاس قدم وهي.

۱۴ کله چي لمړی ځل زيړدلي ماشوم ښکل کړي.

۱۵ کله دي چي هغه څوک په غيږ کي ونيسي،چي پرتا ډير ګران وي.

۱۶ کله چي د خپلي ميني په اړه په اوښلنو سترګو سوچ وکړي.

۱۷ کله چي تر ډيري ژړا وروسته په زوره وخاندي .

۱۸ کله چي زړو عکسونو ته ګوري، او مسکا درځي.

= که ښوونکي يي د زدکونکو احترام کوه،که زدکونکي يي د ښوونکي احترام کوه.

= چاچي يوه ورځ درس درته ويلي دي، هغه دي هم ښوونکي دي.

= څوک چي اخلاق نلري، ايمان يي ضعيفه دي.

= تل د ښوونکو احترام کوي، تل يي ښه وايه، تل يي په تحفو نازوه، ځکه چي تر نبيانو ع وروسته الله ج ستاسو د لار ښووني لپاره ښوونکي راوليږل.

**= دوه شیان د مومن شان لوړوي، ۱- عاجزي ۲- د مسلمانانو حاجت پوره کول.**

**= دوه شیان د موصیبت مخنیوی کوي، ۱- صدقه(خیرات) ۲- خپلوي پالل.**

**= څا سره چې دي څنګه وکړل، ستا سره همغه کیږي.**

**= که چیري پر لمونځ پیسي ورکول کیدای،نن په تولـه لونځ ګوازاره وای.**

**= د انسان لپاره لوی علم دادي، چي انسان په خپل جهالت او کمزوري باندي پوه شي.**

**= هیڅکله د خپل ملګري د ریښتینولي ازموینه مه اخلي.**

**= هغه څوک دروغجن ندي ،چي د خلګو په منځ کي په درواغ ویلو سره صلح کوي.**

**= الله ج پر هغه چا نـه رحمیږي، چي هغه پر خلګو نـه رحمیږي.**

**= له خپل مور پلار سره نیک سلوک کوي،ستاسي او لادونـه به ستاسو سره نیک سلوک وکړي.**

**= کوم څوک چي خپل خلـک پریږدي، د پردو لاس تـه ورلویږي.**

**= په درو شیانو کي کموالي غوره دي، ۱- خوراک کي ۲- خوب کي ۳- خبرو کي.**

**= زما دوست هغه دي چي ما د خپلو عیبونو څخه خبر کړي.**

**= د اسلام په لاره کي بي شمیره کړاوونه(زحمتونه) راځي،خیردي ویي زغمي.**

**= تر ټولو بد انسان هغه دي چي نور ورته له ډاره احترام کوي.**

**= که دي څوک د شپي په ګنا کولو ولید، سهار په هماغه سترګه ورته مه ګوره کیدای شي د شپي یي الله ج ته توبه ایستلي وي، او ښښل شوي وي.**

**= ژوند د خپلو موټو په زور کیږي، د بل په اوږو خو جنازي پورته کیږي.**

**= یواځي هیله شرط نده، د هغي دلاسته راوړولو لپاره هڅه او کوښښ هم شرط دي.**

**= چي ګنا ور معلومه وي،ګنا کوي، تر هغه کس بل جاهل کس نشته.**

**= محنت دومره په خاموشي سره وکړه، چي ستا کامیابي شور جوړ کړي.**

**= ژبه په چوپتیا ښایسته وي.**

**= د کوچنيانو ۵ عادتونه په خپل ځان کي راوله!**

**۱- د رزق غم مه خوره.**

**۲- کله چي وبيرېږي تر ستر ګو اوښکي بهوه.**

**۳- کله چي له يو چا سره جنګ وکړي، کينه په زړه کي مه ساته.**

**۴- کله چي ناجوړه شي شکايت مه کوه.**

**۵- د راتلونکي په اميد سره شيان مه زخيره کوه.**

**= څلور خبري د ژوند حقيقت وګرځوه!**

**۱- د هغه دوست زړه مه ماتوه، چي ستاسره مينه لري.**
**۲- هغه دوست له ځانه مه شړه ، چي تاته ضرورت لري.**
**۳- هغه دوست مه شرموه ،چي هغه په تا اعتبار کوي.**
**۴- هغه دوست مه هيروه، چي هغه تا هميشه يادوي.**

**= پياوړي انسان هر وخت نوروته اهميت ورکوي،او کمزوري هميشه ځان ته،**

**= دوه انسانان خپل نظر نه بدلوي، ۱ مړ ۲- جاهل.**

**= څوک چي رحم نه کوي، پر هغه به رحم ونه شي.**

**= تر ټولو بد هغه څوک دي چي ته ورباندي باور وکړي،خو هغه درسره جفا وکړي.**

**= که پيسي ولري، انسانان به تا وپيژني- که پيسي ونلري، ته به انسانان و پيژنې.**

**= د خوښي په وخت کي په ډيرو ملګرو مه غره کيږه،د سختي په وخت کي به يي اصلي شميره در څرګنده شي.**

**= هوښياره ښځه د خپل خاوند څخه پادشاه جوړي، او ځان د پادشاه ميرمنه جوړوي. بې عقله ښځه د خپل خاوند څخه غلام جوړوي، اوځان د غلام ميرمنه جوړوي.**
**= د بې عقلو خلګو په مجلس کې غوره ده، چې خپل باور او فکر پټ کړي.**

**= که د يو چا پرمختګ ووينې نو حسد مه ورسره کوه، بلکې دا فکر وکړه چې دده کوم عمل الله ج ته خوښ دی ، چې پرده يې دومره رحم کړي دی.**
**= درې شيان حافظه قوي کوي، ۱- روژه ۲- مسواک ۳- تلاوت**

**= درې شيان په ژوند کې بيا نه راګرځي. ۱- مور اوپلار ۲- حسن ۳- ځواني.**

**= درې شيان دي چې ورور له وروره جلا کوي۱-ښځه ۲- زر ۳- ځمکه.**

**= درې شيانو ته په سپکه مه ګوره، ۱- قرض ۲- مرض ۳- فرض.**

**= درې شيانو ته بايد توجه وشي، چې زيات شي۱- عقل ۲- همت ۳- مينه .**

**= [رحمان بابا وايي]- زه رحمان د رب بنده يم دامې حال دی- چې بنده د بل بنده شي څه به يې حال وي.**
**= چيرته چې ستا د خبرو قدر نه کيږي،هلته چپ پاتې کيدل ډير ښه دي.**

**= د مسخرو څخه ځان وساتې ځکه چې مسخرې د انسان روښنايي له منځه وړي.**

**= په ژوند کې د دوو کسانو ډير خيال ساته.**
**۱- هغه چې ستا د ګټې لپاره يې هر څه وبايلل. يعنې ستا پلار.**
**۲- هغه چا په دوعاوو ، چې تا هر څه وګټل، يعنې ستا مور.**

= که چاته تر ځان ډیر اهمیت ورکړي، نو خپل اهمیت له لاسه ورکوي.

= دنن په تمه غریبان، د سبا په تمه پاچاهان دي.

= که غواړي چي د بي عیبه انسان سره ملګري ووسي، پوښه چي د خپل ځان سره هم نه شي ملګري کیدای.

= په حقیقت مه خپه کیږه، خو دروغ هیڅکله مه وایه.

= څومره عجیبه ده چی،انسان د ناروغي له ویري ډوډي پریږدي، خو د الله ج له ویري ګناه نه پریږدي.

= ژوند ماته رازده کړل؛ هرڅه یوه بیه لري ، وړیا (مفت) پنیر یوازي د موږک په تلکه کي پیدا کیږدي.

= هڅه وکړه چي د خپلو ماشومانو لپاره یو ښه معلم اوسي.

= پریږدي چي مظلوم مخلوقات ستاسو له رزقه خپله حصه واخلي؛ ممکن ستاسو همدا رحم ستاسو د نجات سبب وکرځي.

## د کتاب د ارزښت اړوند د پوهانو څو جملي!

۱- کتابونه د خلګو ژبي دي .هیڅ کتاب عبث مه ګڼي.

۲- کله چي دي دکتاب وروستي پاڼه مطالعه کړه ، نو پوسه چي یو ګران دوست دي د لاسه ورکړ،خو ښه پوسه چي یو غوره کتاب دي مطالعه کړ.

۳- تر ښه کتاب ښه لوستونکي ښه دي.

۴- تر کتاب ښه کبنتی نسته چي موږ تر لیري لیري ځایونو پوري نقلوي.

۵- کتاب ستا یوازنی ملګري دي چي د قهر او غوسي بشپیر بوج دي قبلوي، ستا ساتنه کوي تاته نصیحت کوي ، او تل دي څنګ ته بي له کوم شرط څخه دریږي.

۶- کتاب هغه ملګری دي چي هیڅکله خیانت نه درسره کوي.

۷- داهم د کتاب مقام دي ، چي څوک کتاب ولیکي، دوه ځله یي مطالعه کوي.

۸- د ټوله نړي د مختليفو مسلکونو علماو ځواک او خزانه کتابونه دي.

۹- د کتاب مطالعه د ژوند بې ګټي ساعتونه په ګټمنو ساعتونو بدلوي.

۱۰- د تاريخ په اوږدو کي ښه پاته کيدونکي اثار کتابونه دي.

۱۱- په پيسو باندي د ډکي بټوي، په کتابونو ډک کتابتون ښه دي.

۱۲- که کتابونه موږ راجمع کړو، په حقيقت کي موږ نيکمرغي راجمع کوو.

۱۳- د کتاب پرته کور داسي دي، له د روح پرته جسد.

۱۴- د کتاب مطالعه د روح لپاره داسي ده، لکه سپورت د بدن لپاره.

۱۵- ځيني شيان زاړه او ځيني نوي ښه وي، خو کتابونه که زاړه وي که نوي ښه وي.

۱۶- د تاجر لوی والي د پيسو په د خل کي وي، دعالم لوي والي د کتاب په مطالعه کي.

۱۷ کتاب يوازنی ملګري دي، چي هيڅکله منافقت نه درسره کوي، نه ته ور باندي غميږي، اوکه جفا ورسره وکړي نو ندي ملامتوي، او نه دي راز چاته وايي.

۱۸- ښه عبرت او پوهه په ډيره مطالعه نه تر لاسه کيږي، بلکي په دقيقه مطالعه تر لاسه کيږي.

۱۹- د کتاب لږ مطالعه وکړه ، خو هر کلمه يي ښه تر نظر وباسه.

۲۰- کتاب په ماشومتوب کي ښه لار ښود دي، په يوازي والي کي ښه ملګري دي.

= تر ظالم مسلمان پاچا عادل کافر واکمن غوره دي.

= هيڅ کله په باور شک او په شک باور مه کوه.

= کله چي ميلمه شي په دريو شيانو کي ګوتي مه وهه.۱-موبايل ۲- سياست ۳- پوزه.

= د نورو په شخصيت کي ډوبيدل ځان وژنه ده.

**= د کرايي په کور کي ځان ډير مه سترړي کوه، ځکه بي له دي چي کرايه دربانډي جکه کړي، بله کومه کټه درته نه کوي.**

**= چي د مبايل شميره يي په مياشت کي يو ځل تبديلول، پوسه چي د نه سړی زوی دي ،نور تري ځان راټولوه.**

**= چي کومي جلي ته په مرکه ولاړي، او ومو ليدل چي پلار يي غلي او مور يي ږغيږي، نور تري په عزت راپاڅيږه.**

**= چي شاګرد د استاذ د پوښتني وروسته خپل څټ وګراوه، نور وخت پري مه ضايع کوه او ترينه تيريږه.**

**= چي تخلص او لباس يي د عمر او حيثيت سره نه وو برابر، نور يي عقل مه تله.**

**= د هري ډلي ملاتړي، د هيچا ملاتړي نه وي.**

**= مفتو مشورو والا ته په سپکه سترګه مه ګوره ، ځکه چي دی درته هغه څه موت درکوي چي په ډير لوړ قيمت يي تر لاسه کړي.**

**= څوک چي حق وايي دهغه ملګري لږ وي.**

**= يو ښه کتاب د سلو ملګرو څخه غوره دي،او ښه ملګري د يو کتابتون څخه غوره دي.**

**= که چيري غواړي چي په قبر کي ارام خوب وکړي، نو په دنيا کي د عبادت وخت په خوب مه تيروه .**

**= ترلاس لاندي کسان تشويقوي کټه يي ستاسو خپله ده.**

**= د چا دپيسو ډک جيب ته احترام مه کوي، که احترام پيسو ته کيدلی نو خلګو به بانګونو ته سجدي کولي.**

**= تر ځان زړه او تر زړه دي اخلاق ښايسته کړه.**

## عجیبه ټولنه ده!

- موسیقی ته د روح غزاء وايي.

- ډم ته هنر مند وايي.

- رشوت ته شریني وايي.

- منافقت ته سیاست وايي.

- د ښځي او نر ګډ ژوند ته پر مختګ وايي.

- د ښځي د بدن لڅوالي ته ازادي وایی.

- زنا ته ملګرتیا او مینه وايي.

- د بدو ښځه منع کولو ته،شاته پاته کیدل وايي.

- حرام ته حلال وايي.

- نصیحت کوونکي ته لیونی وايي.

- خاکساره ته غریب او زلیله وايي.

- پوه ته نا پوه وايي.

- حق وړونکي ته خیانت کونکي وايي. او برعکس.

- پلارته عصابی وايي،

## چي څه زيات شي ؛ څه به کم شي؟

+ چي خبري زياتي شي – عزت به کم شي.

+ چي خوراک زيات شي – عبادت به کم شي.

+ چي نقل زيات شي - لياقت به کم شي.

+ چي ګناهونه زيات شي – ثوابونه به کم شي.

+ چي عبادت زيات شي – مصيبت به کم شي.

+ چي صبر زيات شي – ذلت به کم شي.

+ چي بي حيايي زياته شي – غيرت به کم شي.

+ چي غمونه زياته شي – خندا به کمه شي.

+ چي عمر زيات شي – ملګري به کم شي.

+ چي ديدن زيات شي – قدر به کم شي.

+ چي عاجزي زياته شي – غرور به کم شي.

+ چي پر هيز زيات شي – مرض به کم شي.

+ چي بي فکري زياته شي – معرفت به کم شي.

+ چي مطالعه زياته شي – تمبلی به کمه شي.

+ چي ښوونکي زيات شي – کم عقلي به کمه شي.

+ چي مشران يي زيات شي – اتفاق به کم شي.

+ چي مبايلونه زيات شي – سواد به کم شي.

= نوي دوستان پیدا کړه، خو زاړه هم زړه ته در نیږدي کړه .

= کال کي یو ځل یا دوه ځلي وینه ورکړه.

= راز ساتونکي اوسه.

= ډیر انځورونه واخله.

= د بیکاري په ورځ یوه ونه وکره.

= کله کله یي نوروته ور زدکړه.

= کله کله یي له نورو زد کړه.

= د غاښ تار تل کاروه.

= دوستان دي د ډالۍ په ورکړه خوشحاله کړه.

= له بدو شرایطو هم ښه ګټه زدکړه.

= چي په تیرو دریو کالو کي دي نه وي اغوستي هغه کالي دي خیرات کړه.

= زړور اوسه که څه هم نه یي،خو هسي ځان زړور نیسه .

= در اوږد شوي لاس ښه تینګ ونیسه .

= پر بایسکله ډیر تګ کوه.

= کنایه مه وایه.

= له نورو سره پټ ښه وکړه.

= د هیواد آساسي قانون هتمي ولوله.

= هغه کتابونه چي نه وي نه ورپسي خپه کیږي، نوروته یي په امانت ورکړه.

= د ورځي نیم ساعت تیز په پښو ګرځه.

= ښه ډېر وخانده ، خندل وړیا دي، او ارزښت یي ډېر دي.

= غوږ نیول زدکړه، ځکه کله کله چانسونه ډېر ورو ستا لور ته حرکت کوي.

= د خلګو او د خلګو د اولادونه نومونه زدکړه.

= د هیوادونو د پلازمینو نومونه یاد کړه.

= له هیچا څخه هیله او امید مه اخله، کیدای شي دا یوا ځینی څه وي چي لري یي.

= تکړه ملګري پیدا کړه.

= د خپلي میرمنی خوږ ملګري اوسه.

= د شیانو د لرلو دعا کوه، د عقل د زړورتیا دعا کوه.

= مالګه لږ خوره.

= پر سیاستوالو باور مه کوه.

= د هر ژوندی شي دراناوی کوه.

= په تیرو تیروتنو دي مه ژاړه، بس تري زدکوه یي، نور یي هیروه.

= مه پریږده چي تلیفون دي د ژوند ښکلي شیبي در خرابي کړي، ټلیفون ستا د کارونو د اسانولو لپاره دي، نه ده هغه چا لپاره چي زنګ یي در وهلي.

= که چا ستایلي د زړه مننه \خوښنه ویل تر ټولو غوره ځواب دي.

= د ماشومانو بي ګټي  خویونه پریږده.

= ښه بایلونکي اوسه ، ښه ګټونکي اوسه.

= یاد یي لره هر څوک د ستاینی وړ ي دي.

= زامن دي و هڅوه چي له شپاړس کلني وروسته کار وکړي.

**= چي څه لاسلیک کوي یو ځل یی ښه په غور لوله.**

**= نوروته دویم چانس ورکړه نه دریم.**

**= بي ارزښته شیان یو ځل وپیژنه، بیا یي پریږده.**

**= په غوسه کي هیڅ څه مه کوه.**

**= داده اوسه پرځان د باور سره خوني ته ورننوځه.**

**= مینه ناکه اوسه.**

**= له « ولي ؟» ډیره ګټنه وکړه.**

**= د خلګو ارزښت د هغوی له زړونو معلوم کړه، نه د هغوي له شتمني.**

**= د هغه چا په څیر سه چي مثبت او خوځنده درته ښکاري.**

**= د الله ج د ذکر څخه په څیر بل هیڅ داسي شی نسته چي بند الله ج د عذابه خلاص کړي.**

**= په پاکي ښځي محنت لګول، د سلو کالو عبادات له منځه وړي.**

**= له ویده کیدولو وړاندي دروازه بندول سنت دي.**

**= له خولي څخه خبره ،او د ټوپک څخه مرمي ! دا دواړه بیرته نه راګرځي! کله چي خبري کوي ښه یي سنجوي. هسي نه چي د چا زړه پري زخمي کړي.**

**= ډیر قبرونه له هغو خلګو ډک دي، چي ویل به یي سبا به توبه وباسم .**

**= زه خپل ژوند کي ځکه هرچا ته اهمیت ورکوم ، چي دوست که ښه وي خوشحالي به راکړي، که بد وي سبق به راکړي.**

**= پیاوړي انسان همیشه نورو ته اهمیت ورکوي، او کمزوري همیشه ځان ته اهمیت ورکوي [ابن خلدون]**

= څوک چي خدای ج ته سر ټيټوي، نو هيڅکله به بل چاته سر ټيټونکي نسي.

= خدای ج ته د خدمت ضرورت نشته،د خدای ج خدمت د هغه د مخلوق خدمت دي.

= کار نه کول د ژوند نه کولو سره يو ډول دي.

= حق تل له ويري پرته بيان کړه ، او شيطان وشرموه.

= وخت ضايع کيږي!هيڅکله د يوشي د غوښتلو په اړه خبري مه کوه عملأ کار شروع کړ

= د تسليميدو رحيه پريږده، له کوټي راووځه، لټون پيل کړه، وګرځه،هيله وکړه اوپيدا يي کړه .

= تر ځغاستي مخکي آرام او سوکه ژوند زدکړه.

= هغه څوک چي خپل راز بل ته وايي،په خپله رسوايي راضي شوي دي.

= قناعت لکه خپل سيوري داسي وګڼه، تر څو له خواريواو بد بختيو څخه په امن کي سي.

= څومره ډيري هيلي او ارزو ګاني؛ خو زموږ لپاره نه.

= مرګ حق دي ، مګر زموږ مرګونه ناحقه دي .

= سفرونه د سړي غرور او تکبر کموي.نو سفرونه وکړي.

= د سختۍ په وخت کي مه ناهيلي کيږه، ځکه د خړو وريځو څخه د رحمت باران اوريږي.

= څوک چي کتاب لولي، مخکي له مرګ څخه يي زر ځله ژوند کړي، څوک چي کتاب نه لولي هماغه يو ځل يي ژوند کړي.

= ځيني نا پوهان کور پاک ساتي، خو څرکونه چټل، ځکه کور خپل بولي ؛هيواد پردی.

= پوښتنه دا نده ، چي وروسته له مرګ څخه ژوندون شته،پوښتنه داده چي له مرګ مخکي دي ژوند کړي.

= که حيواناتو دين لرلای.شيطان به يي د انسان په شکله واي.

= زه داسي راتلونکي جوړوم ،چي تير وختونه راته په ګونډو شي.

= شهامت هغه څوک لري چي ويره وپيژني او وربانديې غالب شي.

= که ستاسو کړنې نور هڅوي چي د راتلونکي لپاره هيلي او موخي ولري، نو تاسو تر ټولو غوره مشر( رهبر) یاست.

= زه په ژوند کي په وار وار له ناکاميو سره مخ شوي يم او همدا ناکامي زما د برياليتوب لامل شوي.

= هغوي چي نا وخته ويديږي، له ژونده تر نورو ډير څه غواړي.

= بريالي خلک لوي تلويزنونه نه نلري، بلکي لوي کتابونه لري.

= ټول ژوندي موجودات له مرګه وروسته فاسيديږي،او ډيرى انسانان له مرګه مخکي.

= کله چي انسان يوازي وي، بي روحه شيانو ته پنا وړي، ونو،بتو،ويالو...

= په ژوند کي هغه څه چي ژر له لاسه وځي، په خپله ژوند دي.

= کوم قوم کي چي نفاق او ډلي وي ،هغه خپل منزل ته رسيداى نسي.

= انقلاب يو سيلاب وي، چي راشي نو ويده خلک يوسي، او ويښ تري ګټي پورته کوي.

= له لاري هر ضرري شی پورته کول، صدقه او خيرات دي.

= په قفس کي زيږدلي مرغه فکر کوي چي الوتل نشته.

= ښه ملګري لکه په تکه توره تياره کي سپين ځليدونکي څراغ! خو ياد يي لره چي له تياري څخه ووتی، ايسته يي مه غورځوه.

= هره نوي ورځ هوښيار انسان ته د نوي او ښه ژوند د پيل لمړنی ګام کيدلي شي.

= مينه ولري، خو اجازه مه ورکوي، چي څوک ستاسو زړه ودردوي.

= که انسان پښني او لاسونه په ځنځيرونو وتړل سي له دي نه ښه دي،چي عقل يي په خرافاتو او وهمونو کي راګير شې.

= ببښنه له غچ اخستلو ډېره غوره ده.

= چيري چي پيسه واکمنه وي، هلته عدالت او ازادي نسته.

= جالبه ده چي ! هغه څوک چي کمه ميرانه لري زيات وخت د ميراني لاپي وهي.

= که په جګړو کي د مشرانو او لادونه ومري، جنګ به نور نه وويني.

= تر دي مخکي چي د قام مشران شي، پوهه ترلاسه کړي.

= د ټولو دراناوی پکار دي، هغوی چي د ځينو دراناوی کوي ، او د ځينو ته، اصلآ د هيڅ دراناوی له زړه نه کوي.

= حتمي نده چي اتل دي کوم مشهور سړی او د لوړي چوکي خاوند وي، بلکي هر هغه څوک چي په خپله وظيفه او خپل کار په پوره مهارت او ايمان داري سره تر سره کوي.

= بخيل چي څومره شته مال راټولوي هومره خپله له لاسه ورکوي.

= روزنه ډير غوره شی دي،چي ستر خلک يي لري،

= څوک چي له نورو لپاره نيکمرغي او خير غواړي بالاخيره پخپله نيکمرغي لاسته راوړي.

= د خپلو ستونزو پر ځای خپلي آسانتياوي او نعمتونه وشميري.

= زموږ تر ټولو ښه استادان زموږ خطاوي دي.

= نن ستاسي ځورونکي؛ ستاسي د سبا ورځي د پياوړتيا لامل دي.

= مثبت فکر ستاسي ژوند بدلولای شي.

= د غله او شتمن تر مينځ دومره توپير دي،چي غله يي له شتمنو لوټي او مالدار يي له بيوزلو لوټي.

= د طمع کونکي په غاړه د مريي توب رسۍ پرته ده.

= د خپلي خوښي په خاطر د نورو خوښي مه بربادوه.

= که غواړي چي نوم دي ، ژوندی پاته شي،نو اولادوته دي ښه اخلاق ور زدکړه.

= د الله ج څخه غوښتنه هوښياري ده، که يي درکړه احسان دي که يي نه درکړه نو حکمت دي.

= د مخلوق څخه غوښتنه ذلت دي،که يي درکړه احسان دي او که يي نه درکړه شرمندګي ده.

= له ايمان څخه وروسته نيکه ښځه غوره نعمت دي.

= په ژوند کي هيڅکله د چا زړه مه ازاروه ، ځکه چي تر ښښنی وروسته هم په زړه کي درد پاته کيږي.

= يو بل سره وخاندي،خو پر يو بل باندي مه خاندي.

= وچ لرګی دومره ژر نه سوځي، لکه څومره چي غيبت د انسان نيکي سوځي.

= اخلاق يو دوکان دي او ژبه يي قلف دي.

= د ريښتينی وجدان خاوندان خپلي نيمګړتياوي نه پټوي.

= د لوړ وجدان خاوندان د ريښتينوالي پلويان وي.

= اتلان يواځي هغه دي چي لوی زړونه لري.

= له خپلوانو سره خپلوي مه پرې کوه.

= له نيکو او ايمانداره خلګو سره مشوره کوه.

= لږ خبري کوه.

= عمر د عبادت او بندګي له پاره غنيمت وګڼه.

= د نورو مال او مقام ته طمعه مه کوه.

= هغه څه چي الله ج درکړي پرې خوښ اوسه.

= ادب او عاجزي هیڅکله هم مه هیروه.

= له الله ج سره صادق او له خلکو سره په انصاف ژوند کوه.

= عمر او روزي په حساب ده،نو له هیچا نه مه دارېږه.

= د خبرو په وخت کي د نورو خبري مه پرې کوه.

= هغه دوست ته دوست ووایه چي په سختي کي در په کار شوي وو.

= د نورو سره په کبر او غرور رفتار مه کوه.

= په هغه څه چي نورو ته يي نصيحت کوي،خپله پري ژر عمل کوه.

= د نورو نصیحتونه او مشوري مه هيروي.

= د بدکارانو څخه هیڅ وخت ده نیکۍ او ځوانۍ طمعه مه کوه.

= د عالمانو او هوښیارو خلکو سره تعلقات وساته.

= له بدانو او جاهلو سره باندار مه کوي.

= په لږ خبرو،لږ خوړلو، او لږ ویده کیدولو ځان عادت کړیه.

= د نور نیک کار پر خپل ځان مه تړه.

= خپل رازونه دي فقط له خپل ځان سره وساته.

= د مور او پلار شتون غنیمت وګڼه.

= په بد کارۍ کي له چاسره ځان مه يو کوه.

= د زنانه يي خوی او لباس څخه ډډه وکړي.

= د خلګو په اصلاح کي يوه زره سستي هم مه کوه.

= هيڅ څوک د چا په مخ کي مه رسوا کوه.

= هرڅومره چي کولای شي ميلمه سره مهربانه اوسه.

= د نورو مال او مقام ته طمعه مه کوه.

= د ښځي او اولاد د بي ځايه غوښتنو پيروی مه کوه.

= مصرف دي د جيب مطابق کوه.

= د ګټي او زيان له پاره خپل عزت له منځه مه وړه.

= ملګري ته د راز خبري مه کوه، کيدای شي سبا دي دښمن شي.

= د خلګو دومره لحاظ کوه چي ځان پري خراب نه کړي.

= له جنګ او پتني څخه په ډډه ګرځه.

= په مجلس کي له خلګو څخه مخکي مه ويده کيږه.

= مړي بد مه يادوه،ځکه چي ګټه نه لري.

= د ميلمه پر وړاندي چاته غوسه مه کوه.

= چي د مجرم ګناه وه نه ويني ورپسي د وه وايه.

= خلک د خلګو پر وړاندي مه رسوا کوه.

= بي ځايه وينا کونکي او لويي کونکي مه اوسه.

= که د ژبي له زيان څخه ځان ژغورل غواړي، نو چپ اوسه.

= د توري زخم جوړيږي.خو د ژبي زخم هيڅکله نه جوړيږي.

= په خولو لانده کالي د شخص د غيرت نښه ده .

= افلاطون د کوټي پر دروازه ليکلي وه ،څوک چي په رياضياتو نه پوهيږي دلته دي نه راځي.

= څوک چي ستا تيروتني بخښي ،هغه ستاسره مينه لري،ته وربانديي زيات ګران يي.

= الله ج ماهي ته په اوبو کي، حيوان ته يي په ځمکه کي، مي‌ږي ته يي په خپل غار کي رزق رسولي، نوته هم له لوږي نشي مړ کيدلای ځکه ته انسان يي .

= څوک چي يو ښه کتاب درته ډالي کي،خپل يو ښه اولاد يي درتا قربان کي.

= مرګ تر احتياج زور نه غواړي.

= بد خلک تور موخونه نه، بلکي تور زړونه لري.

= مسکين سړی ده مالداره سړي څخه ژر جنت ته ځي ، ځکه ده هيڅ شي سوال اوځواب ورسره نه کيږي .

= مړ مي که خو شرموه مي مه .

= که دي مور او پلار ژوندي وي احترام يي کوه ، او که اوفات شوي وی ورپسي دعا او خيراتونه کوه.

= څوک چي نيکه لار دربښيي ، ستا اصلي دوست دي.

= که چا درته ډير کتله، پوشه چي پر تا شکمن دي.

= که چا خبري درته کولي او درته کتل يي نه ، پوشه چي کرکه درڅخه لري.

= يو وخت وخت دي د ملګرو څخه ازموينه اخله .

## زه ولي ستا ورور نه يم؟

- زه ستا په شان خورک ښينک نه کوم!

- زه ستا په شان دالله ج بنده نه يم !

- زه ستا په شان د حضرت محمد ص امتي نه يم!

- زه ستا په شان د اسلام د دين قبلونکي نه يم !

- زه ستا په شان ارمانونه او هيلي نه لرم!

- زه ستا په شان د ګيلو ښخه ډک زړه نه لرم!

- زه ستا په شان پلاږ او مور نه لرم !

- زه ستا په شان کور نه لرم!

- زه ستا په شان عقل او فکر نه لرم !

- زه ستا په شان ده ښه ژوند ارمان نه لرم!

- زه ستا په شان د ښي وظيفي ارمان نه لرم!

- زه ستا په شان د ښه پيسو،موټر ......ارمان نه لرم!

- نو ولي ته زما سره چم دوکه بازي کوي؟ ولي مي عيبونه بل ته وايي؟ ولي مي ښښي کاړي؟ ولي مي خلګو ته غيبت کوي؟ ولي مي خپل ورور نه ګڼي؟

ولي ملګرتيا را سره نه کوي؟ ولي مي په غم پريشانه او په خوشحالي خوشحاله کيږي نه؟

اوس پوه شوي« زه هم ستا ورور او ته هم زما ورور يي! »

**= هیڅکله هم چاته دوکه مه ورکوه.**

**= تل د مشرانو احترام او پر کشرانو مهرباني کوه.**

**= تل بخښنه کوه که د ځان تیروتني بخښي.**

**= هیڅکله پلار د زوی او زوی د پلار په ګناه مه نیسه .**

**= پوهانو ته بخښنه کوه . کم عقلانو ته لار ښیه .**

**= که مور ټول عمر پر اوږو وګرځوي بیا یي هم حق نشي ادا کولای، ځکه هغه جنت له غیږي څخه تر پښنو لاندي کي. او ته یي په غیږ کي ونیولي.**

**= ټول ژوند دي د عالمانو او د هغوی له کتابونو سره تیر کړه.**

**= د بریا د حاصلولو لپاره فزیکي نه بلکي د ماغي مبارزي ته اړتیا ده.**

**= فکر کوه اندیښنه مه کوه.**

**= د ځپو څخه ولي ویریږي ته خپله یو طوفان یي .**

**= د ځان سره د خبرو کولو لاره ولټوه، د نورو سره د خبرو لار د هر چا زده ده.**

**= ناکامي دي ژړوي خو هتمي دي یو ځای ته رسوي.**

**= سیندونه خپلي اوبه خپله نه څښي ، ونې خپل میوه جات خپله نه خوري، لمر په خپلو وړانګو خپل ځان نه روښانه کوي، ګلان خپله خوشبویي د خپل ځان لپاره نکوي ، د نورو سره مرسته د قدرت قانون دي،موږ ټول د یو بل د مرستي لپاره پیداشوي یو.**

**= د سخت وخت وروسته هتمي ښه وختونه راځي.**

**= پریږده چي ناکام شي، که هیڅکله ناکام نشي، هیڅکله به یي زده نکړي ، که هیڅکله یي زده نه کړي هیڅکله به پر مختګ ونه کړي**

= که له تا ښخه څوک کرکه لري پوشه چي د هغه کس ښخه مخ ته روان يي.

= که يو څوک وو چي ستا سره يي د اړيکو ساتلو لپاره له ډيرو سختتو شرايطو سره مبارزه کوله ، نو مينه يي هيڅکله مه هيروه.

= کله چي لمر له تاڅخه مخکي راپورته شي، هيڅکله به کامياب نشي.

= که يوه ورځ ستا مقام ټيټ شو خپه کيږه مه ، ځکه لمر هره ورځ په دي اميد ټيټيږي چي سبا راپورته سي.

## - د ناکامو خلګو نښني نښاني -

- هر وخت شکايتونه کوي.
- په هره معامله کي خپل ځان حقدار ګڼي .
- ذهن يي شفاف نه وي.
- کله يو پسي خبري کله بل پسي.
- د خپلي ناکامي مسئوليت خپله نه اخلي، او نور خلک د خپلي ناکامي لامل بولي.
- د ويروني او داخلي بدلونونو ښخه ويريږي.
- خپله نظريه عالي او ځان پوره ګڼي.
- د ژوند مقصد يي نا معلوم وي.
- فکر کوي چي په هر څه پوهيږي.
- د نورو په ناکامي خوشحاليږي....

= تل لکه سګريټ د نورو لپاره وسوځيږي.

= تعليم وکړي! که دنده مو پيدا نه کړه انسانيت خوبه پيداکړي.

= د مور لپاره هر څوک پريږده خو د هر چا لپاره مور مه پريږده .

= اړيکه وساتي خو اسلامي اصول مه هيروي.

## - زه او ته –

- ته په ګران بيه روغتون کي وزيږيدي، زه په کور کي دواړه ژوند کوو.

- ته په نرم بستر خوب کوي ، زه په ځمکه دواړه خوب پوره کوو.

- ته خوندور شربت څيښي ، زه اوبه څيښم دواړه تنده پرى ماتوو.

- ته کباب سوي غوښه خوري، زه وچه ډوډي دواړه مړيږو.

- ته ګران بيه جامي اغوندي، زه يي له ساده توکره جوړوم دواړه زموږ وجود پټوي.

- ته په موټر کي يو ځاى ته ځي ، زه پر بايسکله دواړه خپل سفر پوره کوو.

- نوزه ولي په تا سوځم؟

- ولي له خپله ربه ګيله وکړم؟

- ولي غمجن سم ؟

زه ولي له خپل خالق څخه شکايت نه وکړم له بنده څخه يي وکړم؟

= څوک چي ستا د ژوند څخه تللي هيڅکله يي په باره کي فکر مه کوه .

= د چا مال او مقام ته ارزښت مه ورکوه انسانيت ته ارزښت ورکړه.

= که دي د يو چا سره مينه وه همداسي پرېږده، درپسي راپسي شي ، که رانغي نو فکر وکړه چي هيڅ ستا لپاره نه وه.

= د بي وفا ملګري پرځای يو سپی وساته.

= هر چاته د زړه راز مه وايه ، نن درسره خاندي سبا درپوري خاندي .

= خپلو خبرو ته دي پام کوه ځکه بده خبره بخښل لري خو هيريدل نه لري .

= پاک زړونه غلطي نه کوي!سادګي کوي ، او نن ورځ سادګي د دنيا غټ ترينه غلطي ده.

= د ياد ساتلو او هيرولو مهارت يوازي پوهان لري .

= يوه ورځ سخته نده ،ځان به مړ وکړم ، خو هره ورځ مرګ ډېر درد لري.

= دا دنيا هم عجبه ده درد هغه چاته ورکوي چي د اوښکو د ساتلو ځوک يي نه وي .

= ښه اخلاق يو داسي ګل دي چي هيڅکله نه مړاوي کيږي.

= ځيني ملګري ملګري نه وی د زړه سکون وي.

= ناپوهان د وسلي په شان دي چي ده هر چا لاس ته ولويږي ډزيږي،

= د خپل کلي زمري مه وژنه کنه پردي سپي به دي وخوري.

= له حسد ځخه ځان وساتي ځکه حسد نيکي داسي خوري لکه اور دي لرګي خوري.

= ده ژوند په هر حالت کي وخاندي کيدای شي يوه ورځ مو له ځورولو ستړي شي.

= که غوره اشخاص لټول غواړي نو لمړی خپله غوره شه .

= هيڅکله د چا په احساساتو لوبي مه کوه ښايي لو به وګټي خو هغه به د تل لپاره له لاسه ورکړي.

**= د هر ګل تر څنګ اغزي وی.**

**= یوازیتوب د بد ملګري ښه دي، او ښه ملګري تر یوازیتوب ښه دي.**

**= ځیني خبري روغ زړونه ماتوي، او ځیني خبري مات زړونه جوړوي.**

**= صادق او ښکلي خلګ ساده او عاجز خلګ وي.**

**= بریالیتوب یو مشخص فورمول دي٪۱ استعداد او ٪۹۹ زیار او زحمت دي.**

**= په یاد ولره چي ونه د خپلو ریښو په زور پورته خیژي.**

**= انسان د عکس په څیر دي چي کله یي لوی کړي خپل کفیت له لاسه ور کوي.**

**= سکوت هغه ژبه ده چي ډیر کم خلګ پری پوهیږي.**

**= باران پر ټولو یو شان اوري خو هغه څوک لمدوي چي ځان نه پټوي.**

**= له مرګ وروسته د یو چا پر قبر اوښکي تویولو څخه دا غوره دي چي په ژوند کي یي قدر او عزت وکړي.**

**= مینه پیسي ندي چي خلاصي شي بلکي مینه عطر دي باید له بویولو څخه یي ټول خوند واخلي.**

**= د یوبل موندل هنر نه دي بلکي د یو بل نه هیرول هنر دي.**

**= تیر هیر کړي هغه یو لنډ درس وو نن ټوله ژوند.**

**= د زړونو تر منځ واټن مهم ندي، بلکي د زړونو تر منځ وفاداري مهمه ده.**

**= په ټولنه دوه ډوله خلګ شتون لري ۱- چي خوراک کوي کار نه کوي۲- چي کار کوي خوراک نه کوي خو لمړی ډول یي ډیر بدبخته دي.**

**= د زړه درد مو هغه چاته ووایاست چي دوه شیان لري ۱- زړه ۲- درد.**

= هغه څوک چي پوهيږي خپله عذاب ګالي او هغه چي نه پوهيږي نوروته عذاب ورکوي.

= دوستي زړو اسنادو ته ورته ده ،هر څومره چي زړه وي هغومره يي ارزښت ډير وي.

= څوک چي پرنورو څومره بد ګومانه وي ، پر ځان هم دومره بد ګومانه وي.

= ښه ملګري څوک دي؟ هغه دي چي درپايه درته ژمن ووسي او د ځان په څير دي درک کړي.

= هغه موږکان چي همدا اوس کار کوي له هغه غوايانو ښه دي چي همدا اوس ويده دي.

= که مو له ستونزو مخ واړوه نو ستونزي مخ در اړوي.

= د درد پټول د ټينګ او مضبوط ايمان نښه ده.

= څوک چي فکري ښکلا ولري د بدن ښکلا نورو ته نه ښيي.

= فقر او بيوزلي دا نه ده چي يوه ورځ بي له خوړلو تيره کړي، بلکي فقر او بيوزلي داده چي يو ورځ بي له فکر کولو څخه تيره کړي.

= ژوند د لوړو او ژورو ټولګه ده په لوړوالي کي غرور مه کوه ، او په ټيټوالي کی همت له لاسه مه ورکوه.

= ژوند کومه ستونزه نده چي حل شي بلکی ژوند يو حقيقت دي بايد تجربه شي.

= که مينه ګنا ده نو د مين زړه ماتول بيا تر ټولو ستره ګنا ده.

= ژوند ته چي څومره مينه ورکوي هغومره ډيره مينه درکوي .

= تير وختونه پر اوږو باندي مه باروه بلکي تر پښو يي لاندي کړه .

= داسي خبري وکړه چي زړه يي و مني، يا داسي زړه ولره چی خبری ومني.

= څوک چي ځان ته ډير ګوري هغه پر ځان باور نه لري.

= تجربه يوازنی ښوونکي دي چي لمړی ازموينه اخلي او بيا تدريس کوي .

= دا مهمه نده چي چيري روان يي بلکي دا مهمه ده چي د چاسره روان يي .

= د انسان د اوسيدلو غوره ځای د خلګو فکر، زړه، او دعا ده.

= که مو داسي څوک و ليدل چي د نورو ترخه يي خوړول ، نو پوسه چي دا سړی په ريښتيا ژوند کوي.

= موږ ټول عمر هغه کسان ډير زهيروو چي له هغه پرته يوه دقيقه ژوند نشو کولای.

= ژوند څه محکمه نده چي پکښي دعوه وکړو بلکي ژوند ژوند دي بايد له هري شيبي يي خوند واخلو .

= عقل هغه څيراغ دي چي د قهر او جهل تياري پري روښانه دي.

= په ژوند کي تر ټولو ناوړه کارونه ده ښځي زړه او د نر غرور ماتول دي .

= د ځمکي پر مخ يوازيني مخلوق مور ده چي ستا ټول ګناهونه بخښي.

= که مو څوک زړه ځي يا راځي ، مخنيوی يي مه کوي يوازي دا هيله تري وکړي چي د زړه په دروازه کي دي نه دريږي خدای مه کړه د نورو د راتلو مخه ونه نيسي .

= ټول خلک دا کوښښ کوي چي پيسي وکټي خو هيڅوک دا کوښښ نه کوي چي ښه ژوند وکړي.

= له هغه څه خوند واخلي چي لري يي، نه له هغه څه چي تاسو يي غواړي.

= که غواړي چي خپل د نيکمرغي اندازه معلومه کړي نو د پيسو پرځای مو مسکا وشميري.

= د ميني ډکه کورني جنت دي.

= پوهه د انسان د سر تاج او او هوښياري يي د لاس امسا ده.

= که یو ناهیلي کس ته کوچنۍ هیله هم ورکړي ښایي د هغه د ژوند اتل شي.

= یوه خوږه مسکا د کلونو دښمنیۍ ته د پای ټکي ږدي.

= د کم عقلو ملګرتیا داسي ده لکه د شرابي سره دي بحث کوي.

= مینه د انسان سره یو ددي دوو کارو هتمي ورکوي ۱- یابه د سر تاج ورکوي۲- یا به یي دار ته خیژوي.

= مینه که انسان ته د ګل په څیر وده ورکوي خو د نازکو څانګو په څیر یي ماتوي هم.

= د انسان ژوند د زیږون سره نه بلکي د بدلون سره پیلیږي.

= عجبه ده ! انسان د قانون په جوړولو دومره نه خوشحالیږي لکه په ماتولو چي یي خو شحالیږي.

= د نارینه غیرت د هغه د میرمني د حیا او غیرت په اندازه دي.

= که هر څومره وخاندي د میني له دنیا مو څه نه کمیږي.

= ژوند سخت دي خو تاسي په هوسایني سره دوام ورکړي.

= ډیر خلګ ښه ژوند ته په رسیدو ښه ژوند له لاسه ورکوي.

= که دي ګناه وکړه توبه وباسه، که دي بد وکړه بخښنه وغواړه ، که دي تیروتنه وکړه اصلاح یي کړه.

= له یوازیتوبه ومره خو د داسي چا ملګرتیا مه کوه چي په ملګرتیا نه ارزي.

= نیکمرغه انسان هغه دي چي د نورو له خوښیو څخه خوند واخلي.

= تر ټولو بده شکنجه هغه ده چي ته د یو چاسره مرسته لري او هغه در څخه کرکه لري.

= انسان باید په نړي کي بندیوان نشي بلکي نړي په خپل ځان کي بنده کړي .

= که غواړي چي د ملګرو سره مو اوږده اړیکه تجربه کړي ورته دروغ مه وایاست.

= انسان هغه وخت د بل د اوښکو په ارزښت پوهيږي چي خپلي اوښکي يي په ګريوان توی شي.

= که مو د چا دراز لږ برخه ور ښکاره کړه نو پوشه چي پاته بر خه يي هم نشي ساتلي.

= د خلګو سره خبري کول ښه دی نه په خلګو پسي خبري کول .

= نن چي څه لرو د هغو دعاګانو برکت دي چي په اړه يي موږ فکر کاوه چي خدای ج يي نه اوري .

= ژبه کولای شي چي حقيقت پټ کړي خو سترګي بيا دا کار نشي کولای.

= موسکا د ژوند ځواکمنه وسله ده نو د ژوند جنګ ته هيڅکله بي له دي وسلي مه ځه .

= ځيني خلګ هيڅکله بده خبره نسي زغملای خو له نورو څخه غوښتنه لري چي وی زغمي .

= که دي خپل درد احساس کړ ژوندی يي، که دي د نورو درد احساس کړ انسان يي.

= لوی خلګ ، جګ قد، ډيري پيسي، لويه شتمني نه لري بلکي لوي خلګ لوی زړونه لري.

= ۵۰٪ سلنه خلګ د خبرو کولو لپاره څه لري خو نه يي وايي، او ۵۰٪ سلنه خلګ د خبرو کولو لپاره څه نه لري خو تل ويل کوي.

= مينه هر څه درکوي خو په بدل کي هر څه درڅخه اخلي.

= شتمن خلګ هغه دي چي هغه څيزونه ولری چي په پيسو نه رانيول کيږي لکه اخلاق، مينه ، صداقت، ريښتنولي.....

= باران شه ووريږه . دا مه پوښته چي د چا پياله تشه ده .

= وفاداري بده نده خو چي وفادار پاته کيږي نو يوازي پاتي کيږي.

= خلګ مو د بريا مخه نسي نيولای يو کس دي چي ستاسي د بريا خنډ کيدای شي هغه ته خپله يي.

= څوک چې مينه درسره لري هغه کسان نه دي چې هره ورځ دي ويني بلکې هغه کسان دي چې هر وخت تا يادوي.

= د ژوند ځيني شيبې د ټول ژوند څخه ډېر ارزښت لري .

= هر بريالي کس د ناکامې خوند څکلي او هر رهبر يو وخت ده بل کس نايب وو.

= داسې خبرې وکړې چې تر اراموالي يې ارزښت ډېر وي او داسې ملګرې انتخاب کړې چې تر يوازيتوب يې ارزښت ډېر وي .

= کله چې مو څوک ځوروي مه خپه کيږه هغه ونه په ډبرو ويشتل کيږي چې ميوه داره وي.

= د نړۍ تر ټولو لوی سمندر ارام نوميږي نو ارام اوسه چې لوی شخص سې.

= نيمايي ويښتان مو هغه انديښنې سپينوي چې په ژوند کې مو هيڅ نه پيښيږي .

= احمق دوست مو هغه کارونه کوي چې دښمن مو هيله لري.

= لوی زړونه او لوړ احساسات دي چې مينه زيږوي.

= ايمان چې څومره پټ وي هغومره کلک وي . مينه چې څومره ښکاره کوي هغومره پاکه وي.

= تر ټولو ستر درد دادې چې همدرد ونه شي مندلی.

= مينه موجود ندي چې پيدا يې کړې مينه هنر دي چې بايد ذده يې کړې.

= ژوند يوازنی فلم دي چې په پای کې يې ټول لوبغاړي مري .

= کوم خلګ چې د بل چا په اړه تاسو ته خبرې کوي ښه ورته ځير سي ځکه دی بل چاته هم ستاسو په اړه خبرې کوي.

= ځيني خلګ چې غواړي د نورو زړه مات نه کړي اصل کې دی خپل زړه ماتوي.

= ډېر خلګ تمثيل کوي لږ خلګ خبرې کوي.

= ځيني وخت به ترخه د خوږو يا اوبو په څير تيروي.

= ډير وخت مو هغه څوک زړه ماتوي چي تاسي يي زړه ساتلي وي.

= زموږ لويه تيروتنه داده چي تل د نورو د خوښي  لپاره خپل ځان خپه کوو.

= هيڅ انسان يو حيوان بي دليله نه وژني، خو يو انسان بل انسان بي دليله وژني.

= ځيني خلګ بدرنګه وي خو ښکلي وي، ځيني بيا ښکلي وي خو بدرنګه وي.

= ددي پر ځای چي مخ پاک کړي لمړی مو زړه او فکر پاک کړي .

= د ځينو خلګو د نيکمرغي راز په دي کي وي چي ترخي خبري زغمي او خوږي خبري هضموي.

= هغه لاسونه چي ګلان پري اوبه وي تر هغو لاسونو ښه دي چي ګلان يي په لاس کي وي.

= هره موسکا د خوښي او هره ژړا د خفګان په معني نده .

= که په ملګرتيا يو د بل څخه هر څومره توقع ډيريږي هغومره خفګان پکښي ډيريږي .

# پای

ماخزونه....

- سوله مل شينواري(عبد الوکيل [ پنځوس ميليونه ]چاپ – ۱۳۸۵ل او ۲۰۰۵م خپرندويه- د افغانستان د کلتوري ودي ټولنه جرمنی ..

نجيب الله خان [ د کاميابي خبري] چاپ ۱۳۸۹ل سنګر خپرندويه ټولنه

ارغوان امين الله[ د کاني کربښي] چاپ ۱۳۹۵ ل

صفا مصتفی [ طاقت ښنونکي فکرونه] چاپ ۱۳۹۲ ه ش مازيګر خپرندويه ټولنه.

نورمل حسيب الرحمن[ پټ رازونه] چاپ ۱۳۹۶ل او ۲۰۱۷م وايګل خپرندويه ټولنه.

- تهانوي حکيم الامت مولانا اشرف علي[د اسلام احکام د عقل په رڼا کي] چاپ ۱۳۸۸ل مهين خپرندويه ټولنه.

- دماهزاري سيد روح الله[قصص القران] چاپ ۱۳۹۰ل-۱۴۴۳ق صداقت خپرندويه ټولنه کندهار.

- صابر صبورګل[ زر انګيزه ښنونکي خبري] چاپ ۱۳۹۶ل \اجدي\۹

- افغان حامد[ خپل شاګرد ته د امام ابو حنيفه رح وصيتونه]

- انترنيت، ګوګل ..........

- د مولوي عنايت الله علمي صاحب د هدايت فلوشي. ټيف فيتي

- د مولوي عبد الرحمن صميم صاحب غوره ويناوي. ټيف فيتي.

## - د لیکوال لنډه پیژندنه!

ښاغلي وکیل احمد د ښاغلي محمد شاهي خان زوي د کندهار ولایت د ډنډ ولسوالي د تیموریانو په کلي کي په کال ۱۳۷۸ل کال کي زیږدلي دي.

لومړنی زدکړي یي تر اتم ټولګي پوري د خپل کلي په منځنی ښوونځي کي بشپړي کړي دي او پورته تر دوولسم ټولګي پوري زدکړي یي په کال ۱۳۹۶ ل کال کي د کندهار په مشرقي عالي لیسه کي تر سره کړي دي.



د عمومي کانکور له لاري د کند هار پوهنتون د ښوونی او روزني پوهنځي د ریاضي څانګي ته بریالی او اوس هم د دریم کال محصل دي.

نوموړي کتاب یي د ډیري مینې او علاقي له کبله لیکلي او در تاسو درنو یي رسولي دی

په درنښت:حکمت الله «خادم»